مرکه په ژورنالیزم کې لوړ اهمیت او پراخ مکانت لري. مرکه اطلاعات را جذبوي، معلومات مستند کوي، د پېښو تر شا حقایق رابرسېره کوي، د مسایلو په اړه بېلابېل نظریات او موقفونه روښانه کوي او د ستونزو په اړه د مناسبو حل لارو پېژندلو ته لاره هواروي.

همدارنګه مرکه د پوهانو، متخصصینو او تجربه لرونکو شخصیتونو د یو عمر مطالعو او تجربو نڅوړ په لنډو جملو کې ټولنې ته وړاندې کوي چې د ټولنې د علمي او مادي بډاینې لپاره ځانګړی اهمیت او ارزښت ثابتوي. مرکه د څېړنې یا تحقیق لپاره هم د فاکتونو او حقایقو د ترلاسه کولو په برخه کې ډېر اهمیت لري، څېړونکو ته خام مواد هم برابروي او ډېر معلومات او احصائیې او ارقام په واک کې ورکوي.

همدارنګه د مرکې اهمیت په دې کې هم جوتېږي چې د لوړ بصیرت، ژور فکر خاوند او دور اندېشه شخصیتونو ته د وینا فرصت برابروي. په هره زمانه کې ځینې داسې شخصیتونه هم وي چې له عصر څخه مخکې فکر کوي او

الله تعالی ورته د وړاندوینو او پرمختګ لوړه ملکه او پراخ بصیرت ورپه برخه کړي وي. هغه فکر یا شتمنیو ته چې عادي خلک لس، شل، پنځوس یا سل کاله وروسته رسېږي یا پوهېږي، هغه  د خپل بصیرت، تجربې او پوهې په قوت همدا اوس پرې پوهېږي، نو له داسې بابصیرته شخصیتونو سره مرکه کول او د هغوی فکر او نظر خپرول دومره با اهمیته او ارزښتناک کار دی چې که ټولنه عمل پرې وکړي، نو په حقیقت کې یې لس، شل، پنځوس او یا هم سل کاله مخکې بیایي؛ نو ویلای شو چې مرکه لوړو افکارو ته د رسېدو او د چټک پرمختګ لنډه لاره ده.

د ژورنالیزم او رسنیز فعالیت په پرمختیا کې د مرکې اهمیت او اغېزې چې څومره وځېړل شي، همدا ځواب په لاس راځي چې مرکه د ژورنالیزم د ځېلونو یا ژانرونو یو مهم او اغېزناک څېل دی چې بېلابېل رسنیز فعالیتونه ورسره پرمختګ کوي.

په اصل کې مرکه د ژورنالیزم یو اطلاعي ژانر ګڼل شوی، ځکه چې د خبري مطالبو د اکمال او د اطلاعاتو راټولولو په موخه ډېره کارول کېږي خو که د ژورو تحلیلي او څېړنیزو مسایلو د سپړلو او پلټنې په موخه وکارول شي نو بیا په داسې وخت کې یو تحلیلي ژانر هم ګڼل کېدای شي. که یوه مرکه د (څه، څوک، چېرې، څه وخت) سوالونو ته ځواب غواړي نو خبري یا اطلاعي مرکه ګڼل کېږي او که د (څنګه، ولې) سوالونو او دې ته ورته نورو تحلیلي، پرتلیزو سوالونو ته ځواب او ریښې سپړل او پلټل غواړي نو تحلیلي مرکه ګڼل کېږي. همدارنګه مرکه د ادبي موضوعاتو په برخه کې هم کارول کېږي او ادبي مرکه یې بولي.(۱۱: ۳۰مخ)

مرکه سربېره پر دې چې د یو خپلواک ژانر په توګه په بېلابېلو برخو کې د پوښتنې او ځواب په ډول تر سره کېږي او غالبا هماغسې د پوښتنې او ځواب په بڼه خپرېږي د نورو ژانرونو د بشپړولو او بډایولو لپاره هم کارول کېږي، لکه د خبر، ګزارش، مقالې، تبصرې، لحظې، فیچر او ځینو نورو ژانرونو د لا بډاینې

په موخه له مرکې څخه د یو مرستندوی ژانر په توګه کار اخیستل کېږي چې په داسې حالت کې مرکه د سوال او ځواب په بڼه نه، بلکې یواځې مطلوب ځوابونه یې د مستقیمو او غیر مستقیمو نقل قولونو په توګه د بل ژانر په متن کې راوړل کېږي او د هغه ژانر د اعتماد او اغېز د کچې په زیاتوالي او عیني کولو کې مهم رول اداء کوي. په دې توګه لیدل کېږي چې مرکه د ژورنالیزم په بېلابېلو څانګو کې خپل ځانګړی مقام یا مکانت او اهمیت جوتوي، خو په اطلاعي ژانرونو کې خپل اصلي مقام ټاکي.

مرکه نه یواځې د خبر په برخه کې، بلکې د ژورنالیزم د بېلابېلو ژانرونو د بډاینې لپاره کارول کېږي او د رسنیو لپاره ډېر معلومات او مطالب راغونډوي، چې د همدې اهمیت له کبله، مرکه پېژندنه او مرکه کول په ژورنالیزم کې په یوې ډېرې مهمې برخې تبدیل شوې. اوس د ډېرو پوهنتونونو د ژورنالیزم پوهنځیو په نصاب کې د یو مستقل مضمون په حیث تدریس کېږي.

## ۲- د علمی، څېړنیزې، ښوونیزې او روزنیزې برخې په پرمختیا کې د مرکې رول

مرکې د علمي ډګر په پرمختیا کې پیاوړی اغېزناک رول لري، علمي سوژې را پنځوي، په هره برخه کې متخصص، وړ او لوړ شخصیتونه رالټوي، له هغوی سره علمي-څېړنیز موضوعات او عنوانونه شریکوي له هغوی سره په اړوندې موضوع کې ژورې مرکې کوي، د هغه علم پټې برخې را برسېره کېږي، په هغه برخه کې د خلکو سوالونو ته ځوابونه ویل کېږي، مرکه کوونکي او مرکه کېدونکي د مرکې د موضوع په اړه ژوره مطالعه کوي او د هغې موضوع په اړه له مرکې څخه مخکې تدابیر، د مرکې په جریان کې تدابیر او له مرکې څخه وروسته تدابیر ټول د دې سبب کېږي چې ټاکل شوې علمي موضوع، عنوان او دهغې اړوند مسایل په ټولنه کې د خلکو تر منځ واوړي را واوړي، په اړه یې ډېرې پلټنې وشي، مطالعې وشي، تحلیلونه وشي او بالآخره ښې پایلې او

وړاندیزونه د ټولنې د پرمختیا او د خلکو د سوکالۍ په موخه په ټولنه کې د رسنیز فعالیت له کبله څپاره شي.

د څېړنیزې برخې په پرمختیا کې هم د مرکې رول ډېر اغېزناک دی، ځکه ډېرې ساحوي څېړنې د مرکو له لارې ترسره کېږي او د موضوع په اړه ارقام، احصائیې، نظریات، معلومات او افکار د مرکو په واسطه ترلاسه کېږي، همدارنګه د څېړنو لپاره ډېر خام مواد او فاکټونه د رسنیو له لارې خپرو شوو مرکو څخه هم ترلاسه کېږي، نو له دې کبله یو څېړنکي ته اړینه ده چې یو ښه مرکه کوونکی هم اوسي، د مرکې په تدابیرو، جریان او له دې لارې د معلوماتو راټولولو او تحلیل باندې ښه وپوهېږي.

د مرکې په واسطه د لومړنۍ سرچینې معلومات مخاطب ته انتقالېدلی شي، چې دا لاسته راوړنه په علمي- تحقیقي او تاریخي برخه کې هم ډېر د قدر وړ لاس ته راوړنه ګڼل کېږي.

د علم، ساینس او تکنالوژۍ په برخه کې د ډېرو مخترعینو، تیوریسنانو، مبتکرینو، څېړونکو، ښوونکو، لیکوالانو، شاعرانو او داسې نورو علمي شخصیتونو سره مرکې او د هغوی د لاسته راوړنو معرفي او تقدیرول د دې سبب کېږي چې هغه شخصیت لا نور ډېر خدمت ته هڅول کېږي او له بلې خوا د هغه لاسته راوړنه خلکو ته معرفي کېږي تر څو په ښه توګه ترې ګټه واخلي چې دا په حقیقت کې د علم، ښوونې او روزنې د پرمختیا په برخه کې پیاوړې اغېزې ګڼل کېږي.

علمي څېړنیزې مرکې په ټولنه کې علم، پوهه، حکمت، استدلال، تخصص او تجربه حاکموي او یوه داسې باعظمته علمي فضا رامنځته کوي چې د مطالعې، پوهې او څېړنې فرهنګ په کې عامېږي، صبر، حوصله، منطق او استدلال په کې وده کوي، اصلاحي نقد او علمي آثارو او لاسته راوړنو څخه علمي دفاع په یو منل شوي فرهنګ بدلېږي چې دا د علمي مرکزونو او علمي ټولنو تر ټولو لوړ علمي پرمختګ ګڼل کېږي.

په ښوونیز ډګر کې د مرکې له ژانر څخه ډېره ګټه اخیستل کېږي، د نصاب په ډېرو کتابونو کې ځینې درسونه، لنډې کیسې او محاورې د سوال او ځواب او مرکو د ژانر په توګه شاګردانو ته رسول کېږي، حتی ځینې بشپړ کتابونه د سوال او ځواب په بڼه لیکل شوي دي، دا ځکه چې سوال د زده کوونکي او زده کړیالانو پام ښه را جذبولی او د ځواب د پیدا کولو په موخه یې مطالعې، څېړنې، تفکر او پلټنې ته هڅولی شي.

په ښوونیز ډګر کې آزموینې ستر ارزښت لري چې زده کوونکي له ازموینې څخه مخکې، د ازموینې په جریان کې او له ازموینې څخه وروسته زده کړې، مطالعې، تفکر، لیکنې او وینا ته اړ کوي او ازموینو کې سوالونه ځوابونه او مرکې خپل ځانګړی ځای لري چې دا هم په ښوونیز ډګر کې د مرکو یا پوښتنو ځوابونو اغېزناک رول ځرګندوي.

په روزنیزه برخه کې د ماشومانو، ځوانانو او د ټولنې د بېلابېلو وګړو د خبرو اترو، تفاهم، سوال او ځواب، تفکر، غور نیولو، مخاطب ته د پیغام رسولو، قناعت کولو، قناعت ورکولو، فصاحت، بلاغت، وضاحت، دقت، رښتینولۍ، متقابل احترام، ښې ملګرتیا او ښه ژوند کولو ورتیا ته لا پیاوړتیا وربښي، دغو خصلتونو او اعمالو ته یې لا ښه روزنه ورکوي او د پوخوالي او ګټورتوب په لور یې بیایي چې په پایله کې یې د ټولنې روزنیزه برخه وده کوي او ټولنې ته په یادو موضوعاتو کې پاخه روزل شوي شخصیتونه وړاندې کېږي.

د مرکو په واسطه د نوي نسل د لا ښه روزلو لپاره په کورونو، ښوونیزو مرکزونو او رسنیو کې ماشومان او ځوانان د لوبو او سرګرمیو په پلمه یو له بل سره تمثیلي او واقعي مرکې وکړي، یو د ژورنالیست او بل لوری د یو معلم، وزیر، معین، استاد، متخصص، ویاند، امیر، ولسمشر، د پارلمان یا ملی شورا رئیس...کرکټر ولوبوي، په دې توګه به نه یوازې دوی د ښو مرکه کوونکو او مرکه کېدوونکو په حیث وروزل شي، بلکې له هغوی سره به له همدې ماشومتوب او ځوانۍ څخه لوړ فکرونه، د ښې ادارې وړتیا او ولس ته د سترو

خدمتونو آرمانونه وروزل شي او هغه به په کې پاخه شي، نو د زده کړو له ډګر څخه وروسته به د ژوند عملي ډګر ته ښه پاخه روزل شوي علمي کادرونه ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کېږي.

**۳- د اسلامي دعوت او تبليغ په برخه کې د مرکې رول**

د اسلامي دعوت او تبليغ په ډګر کې په ډېر حکمت سره له ديني عالمانو، پوهانو، دعوتګرانو سره د ټاکلو مهمو علمي، ديني او دعوتي مسايلو په اړه د پياوړي ايمان او اعتماد په خوږه فضا کې مرکې ترسره کول د ټولنې په اصلاح او د خير ښېګڼو په خپرولو کې ډېرې اغېزناکې پايلې لري.

د قرآن کريم ډېر آيتونه او د رسول الله ص احاديث، سيرت او د صحابه وو په اقوالواو سيرت کې مرکې څخه ډېره اعظمي استفاده شوې ده.

د اسلامي شريعت په تطبيق کې له ډېرو حکومتي الزامونو څخه دعوتي حکمتونه ډېر اغېزناک وي، هغه هم د مرکې د ژانر له لارې يې اغېزې لا څو چنده زياتېږي.

د مرکو بېلابېل ډولونه د ټولنې د علمي، ښوونيزې او روزنيزې برخې په وده کې اغېزناک رول لري، خو د مرکو په ضمن کې ذاتي مرکې او معنوي مرکې هغه دي چې که په سمه توګه وکارول شي نو د انسان د شخصيت، علميت او تربيت په برخو کې يې اغېزې ډېرې چټکې، پياوړې او بې لګښته وي.

همدارنګه د اسلامي دعوت او تبليغ په ډګر کې د مرکو د نورو ډولونو په څنګ کې له ذاتي او معنوي مرکو څخه ډېره زياته ګټه کېږي چې له همدې کبله يې اغېزې هم پياوړې او دوامداره وي او خلک د اوږد وخت لپاره له خپل ځان او له خپل خالق سره د ذاتي او معنوي اړيکو او مرکو په ليکو کې ساتي چې په ترڅ کې يې انسانان او ټول بشريت روزل کېداى شي او په خپل ځان باندې په مجموعه او يواځېتوب کې د خپل وجدان او الله تعالى څارنه او محاسبه حاکمه ګڼي. دانسان په وجود کې د وجدان او د سبحان محکمه د

ایمان په رښا او شتون کې فعالېدلی شي چې دا د بشریت لپاره ډېر د قدر وړ ارزښت او لوړ اهداف حاصلوي.

### ۴- د ټولنیزې برخې په پرمختیا کې د مرکې رول

مرکه د ټولنې د بېلابېلو ستونزو د حل او د پرمختګونو په لاره کې د یو لارښود او اغېزناک رول لرونکی ښه مشاور ژانر دی. « ټولنه او رسنۍ یو پر بل باندې د اغېزو او یو له بل څخه د اغېزمنتوب صلاحیت لري.»(۱۱: ۱۲۱مخ)



مرکه په مستقیمه توګه د ټولنې د پیوند حیثیت لري، چې د ټولنې د عامو وګړو...غږ چارواکو او د چارواکو غږ خلکو ته رسوي او د ستونزو په حل کې ورسره مرسته کوي او په اړه یې طرحې او مشورې ورته راټولوي. مرکه چې د رسنیو د اطلاعاتو را ټولولو او خپرولو یو مهم ژانر ګڼل کېږي د ټولنې په بېلابېلو اړخونو کې یې خپلې اغېزې جوتې کړې دي، د بیرزیت د پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي یو استاد په دې نظر دی چې: د رسنیو اصلاح د ټولنې نیمه اصلاح ده.(۳: ۷مخ)

معیاري مرکې په ټولنه کې خلک سره معرفي کوي، استعدادونه څلوي، زړونه سره نیږدې کوي، په ټولنه کې مناسب افراد مناسبو پوستونو او کارونو لپاره چارواکو ته ورپېژني، د ټولنې د پرمختیا لپاره د خلکو له افکارو څخه ګټورې طرحې او پلانونه خپروي، د وړ او هڅاندو مبتکرو شخصیتونو قدرداني په کې کېږي او هغوی لا تشویقېږي، په ټولنه کې د جوړوونکي نقد یا کره کتنې لپاره حوصلې لوړوي.

د مرکو موخې د رسنیو له عمومي موخو سره سم مسیر مومي او په هماغه لور په مخاطبینو خپلې اغېزې شیندي. مرکې د یو فشار په توګه د ټولنې

افکارو او اعمالو ته جهت ټاکي او ټولنه د خپلو اهدافو تحقق ته اړباسي. له همدې کبله رسنۍ د ځينو پوهانو په اند د څلورم قوت په نوم پېژندل شوي، دا ځکه چې د تقنيني، قضايي او تنفيذي قوتونو په څنګ کې د مطلوبو افکارو او چارو د تحقق په لاره کې يې د يو ډېر فشار راوړونکي، هڅوونکي او وېروونکي قوت په توګه خپل ځان ثابت کړی دی.

که په ټولنه کې رسنۍ، ژورناليستان او په ځانګړې توګه پوښتنه کوونکي ژورناليستان(مرکيالان) خپله دنده په سمه توګه اداء کړي، خپلو مسؤوليتونو ته متوجه شي او په جرأت، چټکتيا (سرعت) او ځيرکتيا (دقت) سره ځان ورته ورسوي، حقايق رابرسېره او فعال خدمتګاران د ټولنې مطرح کړي، ويې ستايي او لا زيات خدمت ته يې وهڅوي، نو بې له شکه چې مثبت او اغېزناک رول يې په ټولنې څرګندېږي.

که په ټولنه کې ژورناليستيک درک او حواس فعال وي او مرکې هم د دې فعالو حواسو د پوهې او انګېزې په رڼا کې په پوره آزادۍ او جرأت سره ترسره شي نو ټولنې ته به سم او دقيق معلومات انتقال شي. څرګنده ده چې انسان ته معلومات د هغه د پنځه ګونو يا شپږ ګونو حواسو له لارې انتقالېږي؛ همدغسې رسنۍ هم د ټولنې د حواسو په څېر هغوی ته معلومات ورلېږي، نو د سالمو او آزادو حواسو په صورت کې ټولنې ته سالم او دقيق معلومات لېږل کېږي چې سالم معلومات د ټولنې وګړي په سالم لور سوقوي او رول يې په ټولنه کې مثبت، ګټور او اغېزناک ثابتېږي.

له پورتنۍ تشبيه سره سم که رسنۍ او مرکيالان  په هره ټولنه، هېواد او زمان کې چې فعاليت کوي د خپل ټولنيز مکانت او مسؤوليت د اداء په موخه د ناخوالو په مخنيوي کې کوښښ وکړي او خپلو خلکو او چارواکو ته د پرمختګونو لارې چارې روښانه کړي او د خير ښېګڼو په چارو کې ورسره مرسته وکړي او لا يې وهڅوي، نو هرو مرو به په داسې حالت کې رسنۍ د هر اړخيزو پرمختګونو په برخه کې خپل رول جوت کړي. د بېلګې په توګه که د يو هېواد

يا ټولنې رسنۍ د خپل پوښښ لاندې سيمه کې د قاچاقو، فسادونو، بداخلاقيو، تاريخ تېرو درملو، تاريخ تېرو غذايي توکو، په محکمو کې رشوتونو، د لوړ پوړو چارواکو د تېروتنو او بې قانونه فعاليتونو، د خصوصي سکټور او ځينو کمپنيو او فابريکو له لوري د ناسمو توليداتو، په سترو قراردادونو کې د ملي ګټو خلاف مادو او فعاليتونو، د ماسټرۍ او دکتورا په کچه زده کړو ته نه پاملرنې، د برېښنا ستونزو، د څښاک او کرنيزو اوبو پر کموالي، د سوالګرۍ ستونزو، بېوزلۍ، بېکارۍ، ښاري او کليوالو ستونزو، کونډو او يتيمانو ته نه رسېدنې، د متقاعدينو ستونزو، د تاجرانو ستونزو، نا امنيو، د جګړو عواملو، د سولې په لارو کې خنډونو، د بهرنيو هېوادونو لاسوهنو، جنګي جرمونو، ظلمونو، له زندانيانو سره ناوړه چلند، د قانون نه پلي کېدلو او له قانون څخه سرغړونو، قانوني خلاوو او ستونزو، د ماشومانو او ځوانانو دستونزو، د مېرمنو د تعليم او تربيې په مخ کې پرتو خنډونو، د روغتونونو او ناروغانو ستونزو، په نشه يي توکو د روږدي کېدو عواملو، د هغو حل لارو او داسې نورو ډېرو موضوعاتو په اړه په پوره بېطرفۍ او جرأت سره اغېزناکې مرکې او مناسبې پوښتنې مطرح او خپرې کړي، نو خامخا اړوند لوري او چارواکي له خوبه راويښوي، له بدو يې پښېمانه کوي، وينه يې په وجود کې ګرموي، خولې پرې راولي، خپلو مسؤوليتونو ته يې پام اړوي او دښېګڼو او خدمتونو په لور يې هڅوي. چې دا ټول د مرکو او پياوړو مسلکي پوښتنو اغېزې دي چې د ټولنې په هرې برخې کې په څرګند ډول تر سترګو کېږي.

دغه شان په مثبت مسير، وياړونو، شخصيت جوړولو، ملي وحدت، ملت روزنې، برياوو، لاس ته راوړنو، علمونو او پرېمانه علمي مسايلو په اړه هم د ټولنې د بېلابېلو اړخونو او موضوعاتو اړوند په لوړو موخو ولاړو او مسلکي مرکو ترسره کول د بشري ټولنې د ودې او پرمختيا په ډګر کې غوره او پياوړې اغېزې لري چې ټولنه هر اړخيزو پرمختګونو او نېکمرغيو ته رسوي.

مرکه له هر څه وړاندې په مرکه کوونکي او مرکه کېدونکي، ورپسې په تخنیکي کارکوونکو او خپرووونکو او بیا په مخاطبینو او ټولنې خپلې اغېزې شیندي او مطلوب لور ته یې سوقوي؛ مرکې د هغوی علمي، فرهنګي، فکري او تحلیلي کچې لوړوي، د مطالعې فرهنګ بنستیز کوي او ټولنه له انزوا څخه ژغوري.

مرکې د ټولنې وګړي کار او فعالیت ته هڅوي، تنبلي له منځه وړي، کاري ماهوي انرژي په عملي شکلي پرمختګونو بدلوي.

د څېړنې په رڼا کې د مرکې د اغېزو د لا ښه څرګندولو په موخه لاندې موډیل وړاندې کېږي چې: معیاري او مسلکي مرکې ټولنې ته د ژوند په




بېلابېلو برخو کې معلومات، اطلاعات، نظریات، طرحې او مشورې وړاندې کوي چې د هغو په نتیجه کې خلکو ته د کارونو آدرسونه ورکول کېږي، د مختلفو کارونو د ترسره کولو لارې چارې هم وربښودل کېږي او د هغو پلي کولو ته هڅول کېږي چې له همدې سببه په خلکو کې د کار کولو او پرمختګ لپاره انګېزې را پاروول کېږي او د کار لپاره ماهوي انرژي د خلکو په فکرونو او جسمونو کې منځ ته راځي، بالآخره په عملي بڼه په ټولنه کې ماهوي انرژي په شکلي پرمختګونو اوړي او د ټولنې هر اړخیزه متوازنه پرمختیا راجوتېږي.

نو د مرکو د داسې پیاوړو اغېزو له امله په کار ده چې د ټولنې د متوازن پرمختګ او پورته یادو شوو ګټو د لاس ته راوړلو لپاره باید په بېلابېلو ډګرونو کې له مناسبو افرادو سره معیاري، مسلکي او ګټورې مرکې ترسره او خپرې شي.

مرکې که په سمه توګه معیاري ترسره شي، نو په ټولنه کې د ستونزو د حل لپاره د جګړې پر ځای د خبرو اترو انرژي، استدلال او منطقي لارې چارې غښتلې کوي؛ جګړه ییزه انرژي په منطقي انرژي بدلوي، د تاوتریخوالي انګېزې، مفکورې او اعمال په سوله ییزو انګېزو، مفکورو او اعمالو بدلوي؛ په مرکه ییزه او استدلالي ټولنه کې د تورو پر ځای ژبې چلېږي، له ژبو هم د ترخو پر ځای خوږې او پستې خپرېږي، چې په دې توګه په ټولنه کې فکري، عقلي او کلامي پرمختیا او پوخوالی رامنځ ته کېږي او وګړي په هرې برخې حتی د ستونزو په حلولو کې هم عقلاني او علمي فکر کوي، نه جنګي او احساساتي. دا موضوعات د مرکو ډېرې پیاوړې او ګټورې اغېزې ګڼل کېدای شي چې د ټولنې د هر اړخیزې فرهنګي بډاینې سبب کېږي .

## ۵- د سیاسي ډګر په پرمختیا کې د مرکې اغېزې

رسنۍ او سیاست دومره سره تړلي دي چې د رسنیو د مرکو او خبرونو عمده برخه سیاسي مسایل، اطلاعات او د هېوادونو تر منځ اړیکې، سیاسي سفرونه، مطبوعاتي کنفرانسونه، د سیاسي مشرانو ویناوې، تبصرې، نظریات او د هغوی اړوند خبرونه جوړوي.

همدارنګه په عامه توګه رسنۍ او په ځانګړې توګه مرکې او ګردي مېزونه په سیاسي برخه کې داسې یو ځواک ګڼل کېږي چې سیاسیون په رسنیزه برخه کې خپل بری په حقیقت کې په سیاسي برخه کې خپل بری ګڼي او کوښښ کوي چې په بېلابېلو رسنیو کې مرکو او ګردیو مېزونو ته حاضر شي او له دې لارې خپله تګلاره، موخې او پیغام مخاطبینو ته ورسوي. سیاسیون له رسنیو سره په اړیکو کې ډېر محتاط وي او کوښښ کوي چې له هغوی سره دوستانه

اړیکې وساتي، کله چې مرکیالان د مرکو او معلوماتو ترلاسه کولو لپاره ورځي د یو ډېر خوږ مېلمه په حیث یې استقبال کوي او داسې چلند ورسره کوي لکه له ډېرو کلونو یې چې سره پېژندل، ځکه په دې ښه باور لري چې له رسنیو سره په مرکه کې بریا، دوستانه فضا، او بشاشه څېره په سیاسي ډګر کې د هغه د بریا زېری دی.

سیاسي ارګانونه، سیاسي حزبونه، سیاسي شخصیتونه او د نړۍ په کچه سیاسي ځانګې له رسنیو سره د اړیکو او مرکو لپاره ځانګړي منظم دفترونه لري او د کار یوه مهمه برخه او وخت یې رسنیو ته وقف کړی وي، وخت په وخت د هغوی پوښتنو ته ځوابونه وايي او ورسره مرکې کوي، ګردیو مېزونو ته حاضرېږي حتی د دې هڅه کوي چې په رسنیو باندې خپل نفوذ وساتي هغوی ته د مرکو او ګردیو مېزونو لپاره سوژې ورکړي او مناسب افراد ورته د مرکو لپاره په ګوته کړي، ترڅو د رسنیو د مرکو او پروګرامونو له لارې د ټولنې فکري قیادت په خپله خوښه روان کړي او عامه ذهنیت د ځان په ګټه را واړوي.

مرکه او سیاست دومره ټینګې اړیکې سره لري چې یوه ښه او پیاوړې مرکه د ولسمشرۍ یو کاندید برلاسی کوي او بل په ناسمې او کمزورې مرکې د ولسمشرۍ له مقام څخه را غورځولی شي.

مرکې تر ډېره په هغو سیاسي موضوعاتو باندې ډېرې کېږي چې هغه په ټولنه کې خبرسازه شي او د رسنیو سرخط ته راشي، نو ګڼ شمېر مرکې د سیاسیونو او سیاسي مسایلو په اړه ترسره کېږي، همدارنګه د سیاسي خبرونو او ګزارشونو د بشپړولو لپاره هم د مرکې ژانر خپل ځانګړی ارزښت جوتوي.

مرکه نه یواځې په رسنیو او ژورنالیزم کې، بلکې د ژوند د بېلابېلو ډګرونو د ښېرازۍ او په هغو برخو کې د ستونزو د لرې کولو او مخنیوي په څېر په سیاسي ډګر کې هم خپل ارزښت دومره جوت کړی چې سیاست بې له رسنیزو مرکو او مرکې بې له سیاست څخه خپل ارزښت راکموي، نو له دې

کبله مرکه په سیاسي ډګر او سیاست په مرکو کې ډېر اغېزناک او ډک له ځواکه وي.

له افرادو او کورنیو څخه نیولې د یو هېواد د جمهوري ریاست، امارت... او سترو نړیوالو مسایلو تر کچې پورې مرکې خپل هر اړخیز ارزښت او اغېزې جوتې کړي دي. ښه پیاوړې مرکه د جمهوري ریاست یا پارلمان...د کاندید دبریالیتوب سبب کېږي، خو کمزورې مرکه د ناکامۍ سبب کېږي، په ځانګړې توګه د کاندیدانو تر منځ تلویزیوني او راډیویي مناظرې د ټولنې په عامه ذهنیت باندې دومره پیاوړې اغېزې لري چې د کاندیدانو په اړه سرنوشت ټاکونکې وي، د دې بېلګې د ډېرو هېوادونو په انتخاباتي کمپاینونو کې په څرګنده لیدل کېږي چې ټول ملت د کاندیدانو مرکې او مناظرې د رسنیو له لارې په څومره لېوالتیا ګوري او له هغې وروسته په ټولټاکنو کې د خپلې رایې د کارولو په اړه تصمیم نیسي. په افغانستان کې هم له دوو لسیزو راهیسې ټولټاکنو او رسنیو خپل تړاو جوت کړی او په ترڅ کې یې مرکو او ټاکنیزو مناظرو د ټولنې د وګړو په تصمیم نیولو باندې خپله اغېزناکي ثابته کړې ده.(۱۱: ۱۲۲مخ)

د اسلامي امارت په منځته راتګ سره که د انتخاباتي مرکو او مناظرو څه څرک نه تر سترګو کېږي، خو د سیاسیونو او چارواکو مرکو ته عام ولس ډېر سترګې په لار وي او په خورا لېوالتیا یې په دې موخه تعقیبوي چې له هغوی څخه زړه ټکوروونکي پیغامونه، د پرمختګونو خبرونه او د خلکو د ژوند د ښه کېدو زېري واوري.

که چېرې مرکې په مسلکي، معیاري او غوره ستراتېژۍ سره وکارول شي، نو بې له شکه چې په مرکو باندې هېواد له سیاسي او ټولنیز بحران څخه راویستل کېدای، د ټول ملت زړونه ګټل کېدای او په ربښتینې توګه د خلکو یووالی د همدې مرکو په واسطه سره منځ ته راتللای شي، لکه د ملي تلوېزیون... له لارې د هېواد با نفوذه شخصیتونه مطرح کول، له هغوی سره د

يو منظم پلان له مخې په اغېزناکو مسايلو مرکې کول، هغوی ته قدر ورکول په حقیقت کې د زرگونو حتی میلیونونو زړونو لاس ته راوړل دي چې د داسې مرکو په واسطه ټول ملت سره يو موټی کېدلی شي او په پايله کې يې د هېواد د سياسي ډگر پياوړتيا، د ولس اعتماد او د نړۍ لېوالتيا رامنځته کوي چې همدا نکته د هېواد د سياسي ډگر د برياليتوب راز او رمز گڼل کېږي.

## ٦- د اقتصادي ډگر په پرمختيا کې د مرکې رول

عملاً په ټولنه کې وينو چې د مرکو له ترسره کولو، د هغو لپاره د لازمو تدابيرو له برابرولو، تخنيکي چارو، خپرولو او داسې نورو اړوندو عملي چارو څخه يې ډېر خلک په کار بوخت دي او له همدې لارې څخه روزي خوري، نو له دې څخه جوتېږي چې د مرکو عملي او شکلي ترسره کولو هم د کار بازار کې خپل اغېز ثابت کړی دی.

د اعلاناتو په برخه کې هم ډېر داسې اعلانونه شته چې د مرکې د ژانر په حيث د سوال او ځواب په توگه ترتيب او خپرېږي چې پخپله اعلانات هم د اقتصادي ډگر په پرمختيا کې ستر رول لري چې د خپرولو وسايل يې همدا رسنۍ دي. له بلې خوا همدا اعلانات د رسنيو د اقتصادي بنسټ د پياوړتيا او د رسنيو په خپلواکۍ او ځان بسياينه کې مهم رول لري. همدارنگه ډېر داسې اجناس شته چې د هغو په پېژندلو او ترويج کې د هغو له مخترع، جوړوونکو، کارگرانو، تاجرانو او داسې نورو اړوندو خلکو سره له مرکو څخه کار اخيستل کېږي. «مرکه نه يواځې په رسنيو او ژورناليزم کې، بلکې د ژوند د بېلابېلو ډگرونو د ښېرازۍ او ستونزو حلولو لپاره ډېر کاربېدونکی او مهم ژانر دی.»(١١: ١٢٢مخ) چې په اقتصادي ډکر باندې ډېره اغېزه کوي.

د سوداگريزو توکو په اړه مرکې ډېرې اغېزناکې وي او د مخاطب زړه په ځانگړي هنر راښکاږي. د ځينو فابريکو، شرکتونو او ماشين آلاتو د توليداتو د کيفيت په اړه له خلکو څخه پوښتنه کول، د هغوی عکس العملونه او د رضايت او نه رضايت کچه معلومول د مرکو په وسيله ترلاسه کېږي چې ډېرې تجارتي

کمپنۍ د عامه اړیکو، ارتباطاتو او خپرونو ځانګړې برخه لري او ډېر کسان یې په کې د ټاکلو تجارتي موخو د پلي کولو لپاره استخدام کړي وي چې د هغوی د کار ډېره برخه مرکې او خبرې اترې جوړوي کوم چې د اقتصادي او تجارتي چارو اړوند له بېلابېلو لورو سره اړیکې نیسي، میداني څېړنې او سروې ګانې ترسره کوي او پایلې یې بېرته خپل تجارتي مرکز ته راوړي تر څو د هغو مطابق په راتلونکي کې خپله اقتصادي او سوداګریزه تګلاره لا غوره او اغېزناکه جوړه کړي.

په اقتصاد او تجارت کې له وفا او رښتېنولۍ ډکې خبرې اترې تاجر ته د اعتماد پانګه ور په برخه کوي او پېرودونکي یې زیاتوي، چې په پایله کې یې ټولنیز اقتصاد په حرکت راځي او د اقتصادي ښېرازۍ لاره هوارېږي.

په اقتصادي ډګر او سوداګرۍ باندې د مرکې بله مهمه اغېزه دا ده چې د اقتصاد د علم او د یو هېواد، سیمې او نړۍ د اقتصادي وضعیت د بهبود یا د اقتصادي ستونزو د مخنیوي او د مناسبو حل لارو پیدا کولو په اړه د بېلابېلو رسنیو له خوا له اقتصادي کارپوهانو، تاجرانو د خامو توکو تولیدونکو، دولتي چارواکو، د خصوصي سکتور له فعالانو او داسې نورو اشخاصو سره ځانګړې مرکې، ګردي مېزونه او حتی مناظرې جوړوي او خپروي چې د هغو په پایله کې خلکو ته د اقتصادي وضعیت د لا ښه کولو او د سوداګرۍ د ښېرازۍ لارې چارې ورښیي، د اقتصاد او سوداګرۍ په لاره کې د شته ستونزو د څرګندولو او مخنیوي سبب کېږي، د اقتصاد او سوداګرۍ د ودې په اړه د قدر وړ نظریات را مطرح کېږي، ټولنې ته د اقتصاد او سوداګرۍ د برخې ستر پوهان، متخصص او با تجربه شخصیتونه معرفي کېږي چې له هغوی څخه په راتلونکي کې نظام او خلک مناسبه ګټه اخیستلای شي، همدارنګه د مرکو له لارې په اقتصادي ډګر کې د احتمالي خطرونو، شته ستونزو او ناخوالو د مخنیوی او حل لارو په اړه د پام وړ نظریات له اړوندو ادارو او افرادو سره شریکېدلی، د هغوی پام ورته رااړول کېدلی او عملاً د هغو مخنیوی کېدلی

شي. د دې ټولو لاسته راوړنو په نتیجه کې د هېواد اقتصادي بنسټ په ځان بسیا او پیاوړی کېږي او همدارنګه په ټولنه کې د اقتصاد او سوداګرۍ علم او کار او بار وده کوي.

**۷- د جرمونو د مخنیوي او حقوقي ډګر په پرمختیا کې د مرکو رول**

له هر څه وړاندې چې د مرکو په برابرولو، ترسره کولو، خپرولو او د ګڼ شمېر مخاطبینو له لوري د هغو په لوستلو، اورېدلو او کتلو باندې کوم وخت مصرفېږي د دې سبب کېږي چې د جرمونو تر سره کولو ته وخت پاتې نه شي او خلک په مثبتو چارو او سرګرمیو اخته وي.

که څه هم د رسنیو په وسیله په عامه توګه هم د جرمونو د مخنیوي، د مجرمینو د اصلاح، روزنې او د ټولنې غښتلې کېدو ته یې د صالحو انسانانو په توګه د راګرځولو په لاره کې اغېزناکه مبارزه کېدلی شي.(۱۲: ۱۶۳مخ) خو په ځانګړې توګه د مرکې د ژانر په وسیله د جرمونو د مخنیوي په اړه له قاضیانو، حقوقي کارپوهانو، مجرمینو، د زندانونو له مسؤولانو، د زندانیانو له کورنیو، د مجرمینو د اعتراف او پښېمانیو د هغوی د جرمونو د انګېزو او عواملو په اړه د مرکو ترسره کول او خپرول د دې سبب کېږي چې په ټولنه کې د جرمونو مخه ونیول شي، جرمي استعدادونه وځپل شي او انسانان له جرمونو او ګناهونو څخه د اصلاح او توبې په لور وهڅول شي، په دې توګه مرکې د جرمونو په مخنیوي او د ټولنې په اصلاح کې ډېرې اغېزناکې واقع کېدلی شي.

همدارنګه که رسنۍ او ژورنالیستان په خورا جرأت سره د مسلکي مرکو او مناسبو سوالونو د مطرح کولو په ترڅ کې د ټولنې د اصلاح، پرمختګ او سوکالۍ لپاره د جرمونو، فسادونو او ناوړو کړو وړو او فکرونو مخه ونیسي، د اصلاح په نیت او حکمت یې د اسلامي شریعت او قوانینو په رڼا کې افشاء کړي او د مسؤولو چارواکو او عامو وګړو ورته پام ور واړوي چې هر یو یې په اړه خپل مسؤولیت احساس او مناسب فعالیت اداء کړي، نو په دې صورت کې

هم د مرکو له لارې د جرمونو مخنيوی کېږي او د مخاطبينو د حقوقي پوهاوي سبب کېږي.

ډېرې رسنۍ د خپلو مرکو له لارې د جرمونو په تعقيب او د مجرمينو او د هغوی د شبکو، موقعيت، پلانونو ا و دسيسو په افشاء کولو کې له عدلي او قضايي ارگانونو سره ښه مرسته کولی شي او څارنوالانو، پوليسو او قاضيانو ته د جرم د درې گونو رکنونو په اثبات کې کافي اسناد او شواهد په لاس کې ورکولی شي، ډېر وخت رسنۍ د مشهودو جرمونو په صورت کې له هغوی څخه ژوندي اسناد ترلاسه کوي د هغوی د جرمونو په اړه د عيني شاهدانو شاهدۍ او مرکې خپروي چې د رسنيو دغه مرکې او اسناد د جرم د اثبات سبب کېږي او دا کار په ټولنه کې د نورو جرمونو د تکرار مخنيوی کوي او جرمي انگېزې او د جرم عوامل له منځه وړلی شي، خو په دې شرط چې د جرمونو د مخنيوي روحيه ولري او که د جرمونو د لا خپراوي او بداړخۍ نيت ولري بيا خو همدا جرمي پيښې او د هغو مغرضانه پوښښ د جرمونو د لا زياتوالي سبب کېږي.

د حقوقو ډېر درسونه، موضوعات، د قوانينو د تعديل اړتياوې، د قوانينو تفسير، تطبيقي بحثونه، د قراردادونو...حقوقي اړخونه او داسې نور پېچلي حقوقي مسايل د بېلابېلو رسنيو د مرکو او گرديو مېزونو په ترځ کې روښانه کېږي او په اړه يې متخصص او با تجربه شخصيتونه خپل حقوقي نظريات، وړاندوينې او معلومات څرگندوي. همدارنگه په يو هېواد کې د جرم او جزا د تناسب په اړه مرکې، د عدالت د تأمين، د هېواد د عدلي او قضايي سيستم د نواقصو، رشوت، د لوړو مالياتو د وضع کولو، د خلکو تر منځ د حقوقي ستونزو او د هغو د حلولو او داسې نورو ډېرو حقوقي موضوعاتو او مسايلو په اړه مرکې ترسره کول او خپرول د دې سبب کېږي چې په ټولنه کې د حقوقي ډگر د علمي بډاينې او پرمختيا لاره هواره او په پايله کې يې د خلکو د پوهاوي او د جرمونو د مخنيوي سبب شي.

**۸- د پوځي برخې په پرمختيا، لوړ مورال او برى کې د مرکې رول**

په پوځي برخه کې د مرکو اغېزې لا نورې هم ښې جوتېدلاى شي، پياوړې پوځي مرکې د پوځ او ټول ملت د مورال لوړولو او بري په برخه کې پرېکنده رول لوبوي، که يو پوځي افسر په خپلې مرکې کې ووايي چې د ښار امنيتي کمربند د دښمن له لوري مات شو او د دښمن پوځونه ښار ته د ننوتو په حال کې دي، نو سم دلاسه دا مرکه په نورو قطعاتو او عامه ذهنيت د هغوی د مورال د کمزورتيا اغېزې خپروي او نور ټول قطعات او پوځيان په خپله خپلې مرچلې پرېږدي، يا تسليمېږي او يا له سيمې څخه په تېښتې بريالي کېږي. برعکس که يو پوځي افسر په لوړ مورال د کلک مقاومت، پرمختګ او فتوحاتو مرکه وکړي نو ټول قطعات مورا ل اخلي او کلک مقاومت کوي، حتی د همدې مرکې له لارې پوځيان له خپل افسر څخه فرمان او قومانده ترلاسه کوي او د هغې پر بنسټ خپل عملياتونه ترسره کوي.(۱۱: ۱۲۲مخ)

همدارنګه د يو هېواد او نظام له بانفوذه او لوړپوړو چارواکو سره داسې مرکه او د رسنيو له لارې يې خپرول چې د لوړو اهدافو، آرمانونو، برې، پياوړتيا، صبر، استقامت او د دښمن د ماتولو په اړه موثقې او باوري خبرې په کې وشي دومره پياوړې اغېزې کوي چې د ټول پوځ او ولس مورال لوړېږي او د دښمن پر وړاندې کلک مقاومت کوي او کېداى شي همدا مرکه يې د بري سبب شي.

دمرکو او د ژورناليستانو د پوښتنو ګروپېږنو له کبله  په پوځي ډګر کې جنګي جرمونه او ظلمونه را کمېدلی شي، ځکه نظامي افسران او پوځيان هم د رسنيو او مرکو له پوښتنو څخه د وېرې احساس کوي او د خپل نوم د ساتلو لپاره هم کوښښ کوي له ظلمونو او د ملکي خلکو له ځوړولو او د عامه تأسيساتو او شتمنيو له ورانولو او لوټولو څخه تر ممکنه حده ډډه وکړي.

په پوځي ډګر کې د مرکو لويه ګټه دا ده چې جګړې په مرکو او سوله بدلوي، د ډېرو جګړو پاى مرکې او خبرې اترې وي چې دواړه رقيبې ډلې د

استدلال او تفاهم په مېز سره راټولوي او د جګړو سخت سنګرونه او حالتونه په همدې مرکو او خبرواترو سره پای مومي.

## ۹- د طبابت او روغتیا ډګر په پرمختیا کې د مرکې رول

ډېر روغتونونه، کلینیکونه، درملتونونه او ډاکټران له خپلو طبي خدمتونو څخه د مرکو له لارې خلک خبروي، همدارنګه د مرکو په ډول خپل اعلانات خپروي او د خپلو درمل شوو مراجعینو خبرې اترې د نورو د اعتماد د راجذبولو لپاره د رسنیو له لارې خپروي.

ډېر روغتیایي مرکزونه د عامې روغتیا وزارت، نړیوال روغتیایي بنسټونه او داسې نور رضاکار روغتیایي خدمتګاران خلکو ته د مرکو له لارې روغتیایي معلومات خپروي، له ناروغیو څخه د ځان او نورو د ژغورلو لارې چارې ورښیي، د نوو رامنځ ته شوو ساري او غیر ساري ناروغیو د عواملو او علایمو او مخنیوي په اړه له رسنیو سره مرکې کوي او په دې اړه د مرکو له لارې د خلکو د پوهاوي کچه لوړوي، لکه د آشنا راډیو څخه د سترګو د ناروغیو د درملنې، وقایې او ساتنې په اړه له یو ډاکټر سره ژوندۍ مرکه چې مخاطبینو هم د ټېلېفون او ټولنیزو رسنیو له لارې خپل سوالونه مطرح کولی شول او په ژوندۍ بڼه یې خپل ځوابونه ترلاسه کول.(۲:رادیویي خپرونه) چې دا په روغتیایي ډګر کې له مرکې یوه اغېزناکه ګټه ده او د روغتیایي ډګر د پرمختیا او د خلکو د روغتیا سبب کېږي. همدارنګه له دې څو کلونو راهیسې په نړۍ کې د کرونا وبا د خپرېدو او ډېرو نورو ناروغیو د درملنې او وقایې په موخه د بېلابېلو رسنیو له لارې د ډېرو مرکو د ترسره کېدو او خپرېدو شاهدان یو.

همدارنګه په طبابت او درملنه کې د یو ډاکټر د ښې بالیني مرکې له امله یو ناهیلی ناروغ رک روغ شي یا د درملو له اغېز سره د ناروغ په روغتیا کې مرسته وکړي.

بالیني یا د درملنې مرکه هغه مرکه ده چې د یو رواني یا جسمي ناروغ د درملنې لپاره کارول کېږي. (د درملنې مرکې څخه یوه مهمه موخه په رواني

اختلالاتو باندې اخته انسان سره د رواني مرستې لپاره د مرکې په جریان کې د هغه د ستونزو د ماهیت د شدت تشخیصول او د هغه د ماضي او حال په اړه د مناسبو معلوماتو لاس ته راوړل دي، چې د هغو په رڼا کې له رواني ناروغ سره مناسبه مرسته وکړای شي)(٦: ٢٣٥مخ) یا مناسبه مشوره ورکړی شي او په پایله کې د هغه د رواني سلامتیا او روغتیا سبب شي. له بالیني مرکو څخه د رواني او عقلي درملنو طبیبان، د کورنیو مشران، د ټولنې با نفوذه او اصلاح غوښتونکي شخصیتونه د ټولنې د وګړو د ناروغیو په درملنه کې ډېره ګټه اخلي؛ د جسمي ناروغیو طبیبان یې هم ډېره کاروي او خپل مریض سره مرکه کې هغه ته د روغتیا ډاډ ورکوي چې دا دومره زیات مرض نه دی، له دې دوا سره به جوړ شې، داسې ناروغان ډېر دلته راغلي جوړ تیار شوي دي. (١١: ١١٢مخ)

ځینې رسنۍ د خپلو مخاطبینو د تداوۍ او یا هغوی ته د روغتیایي خدمتونو، معلوماتو او د پوهاوي د کچې لوړولو په موخه یو یا څو متخصصین خپلو رسنیو ته رامېلمه کوي او د ژوندۍ مرکې په بڼه خلک د تیلیفون یا بلې هرې وسیلې له لارې خپلې ستونزې، دردونه او ناروغۍ ورسره شریکوي او د همدې ژوندۍ مرکې له لارې هغوی ته روغتیایي مشوره ورکول کېږي، نسخه ورکوي او درملنه یې کېږي، له دې کبله چې په ژوندۍ او تکراري بڼې له عامه رسنیو څخه خپرېږي، نو نه یواځې د یو تن بلکې د نورو ورته ناروغانو په درملنې، د نورو روغتیا پالانو د روزلو، هغوی سره د نظریاتو د شریکولو او د عامو وګړو د روغتیا او د پوهاوي د کچې د لوړوالي سبب کېږي.

ډېرې رسنۍ د روغتیا په برخه کې د بېلابېلو موضوعاتو او ناروغیو په اړه ځانګړې طبي مرکې او ګردي مېزونه جوړوي او متخصص، باتجربه او مشهور ډاکټران ورته رابلي چې په ترڅ کې یې د هغې موضوع په اړه ډېر معلومات او د قدر وړ نظریات خپرېږي او د علمي او مسلکي پرمختیا سبب کېږي.

### ۱۰- د اداري ډګر په پرمختياکې د مرکې رول

ډېرې اداري او بنسټونه د خپلو چارو د پرمخ بيولو او د خدماتو د وړاندې کولو لپاره د رسنيزو مرکو له لارې مناسب او وړ کسان پېژني او هغوی مناسبو کارونو ته ګماري.

دغسې ډېر شخصيتونه د خپلو مرکو له لارې ټولنې او چارواکو ته خپل استعدادونه ثرګندوي، د خلکو اعتماد ترلاسه کوي او له همدې لارې ډېرو سترو دندو ته رسېږي.

په اداري برخه کې يوه پياوړې استخدامي مرکه د دې سبب کېږي چې يوې لوړې دندې ته له لسګونو مرکه کېدونکو څخه يو تن بريالی اعلانوي دې ته استخدامي مرکې هم ويل کېږي « دا ډول مرکې د دولتي او غير دولتي ادارو او مؤسسو له خوا د کاري پرسونل د جذب او استخدام په موخه کارول کېږي چې د هغو په ترڅ کې غوره او کاري کسان پېژندل کېږي او د مناسبو پوستونو لپاره په دندو ګمارل کېږي.»(۱۱: ۱۰۲مخ) محمود ساعتچي د استخدامي مرکې په اړه ليکي چې (همدا ډول مرکه د يوې مؤسسې يا اداري د اعلان شوې دندې لپاره د مناسب تن د ګمارلو په موخه د شخصيت ارزولو او تصميم نيولو غوره شيوه ګڼل کېږي.)(۷: ۴-۵مخونه) ځکه چې تر ټولو وړ، با تجربه او متخصص کارمند د اداري د لا غوره خدماتو د وړاندې کولو لپاره د همدې مرکې له لارې له پېژندلو وروسته استخداموي، چې دا کار د اداري د پرمختګ او د اهدافو د تحقق سبب کېږي.

### ۱۱- دسپورټي ډګر په پرمختيا کې د مرکې رول

په سپورټي، په زړه پورې جذبه او په هماغسې جامو، خبرو او څېره د سپورټ او بدني روزنې په اړه مرکې جوړول او خپرول، سپورټي ستوري معرفي کول، د هغوی په اړه د نورو نظريات راټولول او خپرول، د سپورټ له ستورو سره مرکې کول، د سپورټ د روغتيايي، رواني، بدني، فرهنګي، ګرځندوی او اقتصادي ګټو په اړه مرکې جوړول او خپرول، همدارنګه له اسلامي ليدلوري څخه

سپورټ او بدني روزنې ته د مسلمانانو هڅول او په دې اړه له ديني عالمانو سره ځانګړې مرکې ترسره کول په هېواد کې د سپورټ او بدني روزنې د ودې سبب کېږي او د سپورټي برخې په پرمختيا کې اغېزناک رول لوبوي.

## ۱۲- د فرهنګي ډګر په پرمختيا کې د مرکې رول

ښه مرکه يو فرد پياوړی او د لوړ شخصيت لرونکی ښيي. په رسنيو او ورځني ژوند کې د ښو مرکو کېدل د ټولنې فرهنګ لوړ او له وياړونو ډک ځلوي او د ټولنې په ټولو برخو کې خپلې ټوليزې او ځانګړې اغېزې جوتوي.

غوره مرکې ذهنيتونه روښانوي، شخصيتونه جوړوي، پوهاوی زياتوي، علمي-فرهنګي او تربيتي کچه لوړوي، د ټولنې د وګړو تر منځ د مرستو، اعتماد، زړه سوي او لورينې روحيه راژوندی کوي، مثبتې انګېزې خپروي، د وګړو تر منځ پېژندګلوي زياتوي، پټ استعدادونه را برسېره کوي، ناويلې خبرې او موضوعات څرګندوي، د وګړو تر منځ اړيکې ټينګوي، چارواکو ته د دندو لپاره وړ او لوړ شخصيتونه ورپېژني، د کار انرژي ډېروي، د کسب او کار لارې او آدرسونه خلکو ته ورښيي، د رسنيو اعتماد او د خلکو د باور کچه لوړوي، له نويو اکتشافاتو او نظرياتو څخه خلک خبروي، د اقتصاد کچه لوړوي، د بېلابېلو نظرياتو شريکولو او خپرولو ته لاره هواروي، رسنيو ته غوره مطالب په واک کې ورکوي، خبرونه مستند او پياوړي کوي، د څېړنې او حقيقت پيدا کولو مسير ګړندی کوي، د خلکو غږ چارواکو او د چارواکو پيغامونه خلکو ته په مستقيمه توګه رسوي په دې معنی چې د ملت او دولت تر منځ د يو ارتباطي پُل په حيث خپله دنده او اغېزناک رول اثباتوي، ستر شخصيتونه لا نور هم په ګټورو مطالبو مشغول او مصروفوي، په ټولنه کې د مطالعې فرهنګ بنسټيز کوي، د ټولنې د هر قشر د خبرو اترو او نظرياتو شريکولو فرهنګ پياوړی کوي، د وګړو تر منځ د افهام او تفهيم لپاره علمي او منطقي فضا ايجادوي او بالآخره دا ډول غوره اسلوب د ټولنې په دود او فرهنګ بدلوي؛ چې په دې توګه بيا هم ثابتېږي چې غوره، مسلکي او معياري مرکې د ټولنې

د هر اړخيز متوازن پرمختګ او سوکالۍ سبب کېږي او دا ټول غوره اسلوب او پرمختګونه د ټولنې د لوړ فرهنګ نماينده ګي کوي.

**د څېړنې د پای خبرې**

د دې بحث په پای کې تأکيد کوم چې مرکې بايد په لوړو موخو او مسلکي اخلاقياتو ولاړې وي. مرکې دې په داسې ګټورو او اغېزناکو اصلاحي او پرمختيايي موخو استوارې شي چې ټولنې او وګړو ته يې ګټې ورسېږي، حقايق څرګند او معلومات پراخ کړي، د پوهې کچه لوړه، ذهنيتونه روښانه، وګړي اصلاح او ټولنې ته واقعي پرمختګونه او نېکمرغۍ ډالۍ کړي. په منفي يا چپ جهت کې هم بايد مرکې د فسادونو، جرمونو، ګناهونو، نفاق، جهالت، تعصبونو، شيطاني فکرونو، وسوسو، اوهامو، شايعاتو او جرمي انګېزو مخنيوی وکړي. که مرکيالان او رسنۍ د مرکو له لارې په ټولنه کې خپلې دغه دندې په ښه توګه اداء کړي، نو په زغرده ويلای شو چې په ټولنه يې مثبتې اغېزې تضمينېږي، په دې صورت کې اطلاق کولی شو چې رسنيو د مرکې ژانر له لارې خپل مسؤوليت اداء کړی دی.

رسنيو او مرکيالانو ته په کار ده چې د ټولنې له غوښتنو، پوښتنو، اړتياوو، باورونو، ارزښتونو او فرهنګ سره متناسب څه وړاندې کړي تر څو د ټولنې غوره نماينده ګي او د وګړو د زړونو ترجماني وکړي چې په دې توګه به رسنۍ د خلکو په زړونو او ذهنيتونو کې ځای ونيسي او د اعتماد کچه به يې ډېره لوړه او اغېزې به يې لا پسې پياوړې شي. لکه يو شاعر چې وايي.

«برادر یک نظر فرما که این میهن چه میخواهد

ز فکر تو چه میجوید ز طبع من چه میخواهد»(۴:اصلاح راډیو)

په افغانستان کې مطبوعاتو د پيل په لومړنيو لسيزو کې د خپلو ټولو پيغامونو، مرکو او نورو ژانرونو او پروګرامونو له لارې په ټولنې پياوړې اغېزې درلودې او په مطبوعاتو کې د خپرېدونکو ژانرونو او مطالبو هم ځانګړی مقام او پياوړې اغېزې محسوسېدلې، له همدې کبله د مطبوعاتو چلوونکي او

فعالان هم د ټولنوالو له خوا لکه د خپلو کورنیو د غړو په څېر پېژندل کېدل او له هغوی سره یې بې کچې مینه کوله او د هغوی د حقونو د تلف کېدو په صورت کې به یې له هغوی څخه په ټینګه دفاع کوله. اوسنۍ رسنۍ، مرکې او نور ژانرونه که د هغوی په پل باندې پل کېږدي نو همغسې به په ټولنه کې د اعتماداو باور سرچینې وګرځي.

**پایله**

۱- مرکه د بشري ټولنې د هر ډګر په پرمختیا کې اغېزناک او د پیاوړي ځواک رول لري.

۲- په هغه صورت کې چې مرکې د منل شوو معیارونو پر بنسټ، د مسلکي تدابیرو په مټ او د لوړو آرمانونو د پلي کېدو په موخه له علمي او عملي واقعیتونو سره سم وکارول شي د ټولنې په مادي او معنوي پرمختګونو او ودې کې ډېر رغنده رول لوبولای شي.

۳- مرکه د څېړنې لپاره هم د فاکټونو او حقایقو د ترلاسه کولو او مستند کولو په برخه کې ډېر اهمیت لري، څېړونکو ته خام مواد برابروي او ډېر معلومات، احصائیې او ارقام په واک کې ورکوي.

**وړاندیزونه**

۱- د حکومت هر ارګان، ډلې او رسنۍ باید د مرکو ترسره کولو ته د ټولنې د هراړخیزې پرمختیا په موخه، په معلوماتو، تخصص، تجربې، تحلیل، حوصلې، فصاحت، بلاغت، عصري علومو او تکنولوژۍ باندې سمبال خلک وګماري.

۲- رسنۍ او ټول اړوند لوري باید د مرکې د معیارونو او تدابیرو په رعایت سره د لوړو آرمانونو د تحقق په موخه مرکې تر سره کړي، تر څو د مرکو د اغېزو په ترڅ کې با فرهنګه نسل، متحد ملت او د سوکاله ژوند لرونکې، پرمختللې او نېکمرغه ټولنه را منځته شي.

۳- په کورونو، تعلیمي مرکزونو او رسنیو کې باید د مرکې له ژانر څخه د نوي نسل په روزنه کې په ښه توګه استفاده وشي.

۴- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او رسنۍ دې د معياري، مسلکي، اغېزناکو او ګټورو مرکو د ښه تفهيم لپاره په لوړه کچه ورکشاپونه، سيمينارونه او ښونيز پروګرامونه داير کړي او ژورناليستان دې د هر اړخيزې پرمختيا د رامنځته کېدو په موخه سره همغږي وروزي.

**مأخذونه**


۱- القرآن الکريم

۲- آشنا راډيو، «د سترګو د ناروغيو، وقايې او درملنې لارې چارې»، د ماخستن ۱۰:۳۰بجو خپرونه، چهارشنبه ۱۴۰۱/۳/۱۱هـ ل.

۳- الأصفر، عماد. اجراء المقابلات و ادارة الحوار للبرامج والأخبار، مرکز تطوير الاعلام-جامعة بيرزيت: فلسطين، ۲۰۰۷م.

۴- اصلاح راډيو، ۱۳۹۱ کال، د ترانو او نعتونو برنامه.

۵- بديعی، نعيم؛ حسين قندی. روزنامه نگاری نوين، چاپ چهارم، انتشارات دانشگاه علامه طباطبايی: مکتبۀ علم و فرهنگ محلۀ جنگی، پشاور،۱۳۸۳هـ ل کال.

٦- ساعتچی، محمود. اصول و فنون اجراي مصاحبۀ استخدامی، ارزشيابی و بالينی، چاپ دوم، مؤسسۀ انتشارات امير کبير: تهران، ۱۳۸۸هـ ش.

۷- ساعتچی، محمود. چگونه مصاحبه کنيم؟ چگونه مصاحبه شويم؟، نشر ويرايش: تهران، ۱۳۸۷هـ ش.

۸- عميد، حسن. فرهنگ عميد، چاپ سوم، مؤسسۀ انتشارات امير کبير: تهران، ۱۳٦۹هـ ش.

۹- مدکور، ابراهيم. المعجم الوجيز، مجمع اللغة العربية: مطابع شرکة الاعلانات الشرقية دارالتحرير للطبع و النشر، مصر،۱۹۸۰م.

۱۰- مشواڼی، عبدالقيوم زاهد. زاهد پښتو- پښتو سيند، د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د پښتو څېړنو نړيوال مرکز: د چاپ چارې: دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۵هـ ل.

۱۱- ناظم، محمد داود. مرکه او په تولنه یې اغېزې، اصلاح افکار خپرندویه اداره: کابل، ۱۴۰۰هـ ل.

۱۲- ناظم، محمد داود ناظم. جرایم رسانه یی در حقوق جزای افغانستان، جامعة المصطفی العالمیة: چاپ حامد رسالت، کابل، ۱۳۹٦هـ ش.

13- Jahan, Shawkat. "Effectiveness of interviews", http://hrmpractice.com, [accessed 12 september 2020].

14- Pushkalavati, Inam ur Rahman. Journalism, University Book Ajancy: Peshawar, 2006.

معاون سر محقق غلام نبی حنیفی

# اهمیت تحقیقات علمی در جهان معاصر

# The importance of scientific research in the contemporary world

***Associate professor Gholam Nabi Hanifi***

## Abstract

Scientific research has continuously evolved from ancient times to the present day and each civilization building upon the knowledge of its predecessors. Islamic civilization played a significant role in advancing science by absorbing, developing, and innovating upon the knowledge of ancient civilizations and subsequently passing this knowledge to the West and other societies. In today's world, scientific research holds critical importance as we transition from the Industrial Revolution to the Digital Revolution, marked by the age of information and communication. In this era, research forms the foundation of all scientific, industrial, and technological advancements, making true self-sufficiency and genuine development impossible without it. The purpose of this study is to elucidate the importance of scientific research in the modern world, especially emphasizing its necessity for Afghanistan under current conditions. This research begins with the fundamental question: What role does

scientific research play in today’s world? It also emphasizes the hypothesis that scientific research has been a primary driver in humanity's transition from the Industrial to the Digital Age. Findings indicate that substantial investments in scientific research are made not only by governments but also by private and commercial institutions, attracting talented and creative individuals to this field. In today's world, knowledge is power, and the strength of nations depends on their scientific capabilities. A country’s ability to produce knowledge and capital is fundamental to its success, and without scientific research, achieving economic development and social welfare is unattainable.

**خلاصه**

تحقیقات علمی از دوران باستان تا به امروز به‌طور پیوسته تکامل یافته و تمدن‌ها هرکدام بر دانش گذشتگان خود افزوده‌اند. تمدن اسلامی با جذب و توسعه دانش تمدن‌های باستانی و ایجاد نوآوری‌ها نقش مهمی در پیشرفت علمی داشته و دانش را به غرب و تمدن‌های دیگر انتقال داده است. در جهان امروز، تحقیقات علمی اهمیت حیاتی دارد، زیرا که عصر ما عبور از انقلاب صنعتی به انقلاب دیجیتلی و عصر اطلاعات و ارتباطات است. در این عصر، پژوهش پایه اصلی تمام پیشرفت‌ها و انکشافات علمی، صنعتی و تکنولوژیکی است و بدون تحقیق، رسیدن به خودکفایی و توسعه واقعی غیرممکن است. هدف این تحقیق، تبیین اهمیت پژوهش‌های علمی در جهان معاصر و تأکید بر ضرورت آن برای افغانستان در شرایط کنونی است. پژوهش با این پرسش اساسی آغاز می‌شود که تحقیقات علمی چه نقشی در دنیای امروز دارند و بر این فرضیه تأکید می‌کند که پژوهش‌های علمی عامل اصلی گذر از انقلاب صنعتی به عصر دیجیتل بوده‌اند. یافته‌ها نشان می‌دهند که نه تنها دولت‌ها بلکه نهادهای خصوصی و تجاری نیز سرمایه‌گذاری هنگفتی در تحقیقات

علمی می‌کنند و افراد نخبه و خلاق را به این حوزه جذب نموده و می‌نمایند. در جهان امروز، دانش قدرت است و برتری ملت‌ها به ظرفیت علمی آن‌ها وابسته است. توانمندی یک کشور به قابلیت تولید دانش و سرمایه بستگی دارد، و بدون پژوهش علمی، دست‌یابی به توسعه اقتصادی و رفاه اجتماعی ناممکن خواهد بود.

**مقدمه**

تحقیقات علمی بنیاد انکشافات علمی جهان معاصر است. تمام پیشرفت‌های علمی جهان معاصر در واقع محصولی تحقیقات علمی دانشمندانی است که در عرصه‌های مختلف انجام داده‌اند. بشر امروز از برکت تحقیقات و در نتیجهٔ انکشافات علمی به جای رسیده که نسل‌های گذشته اصلاً فکرش را نکرده بودند. سرعت تبادلهٔ اطلاعات در واحد زمانی حتا کمتر از ثانیه قابل پیمایش است. سرعت نقل و انتقالات و حجم بار قابل انتقال با وسایط حمل و نقل عصری نسبت به گذشته‌های حتا یک قرن پیش کاملاً متفاوت و شگفت آور است. انجام کار با ماشین، تسهیلات تخنیکی و فناوری برای اجرای تعاملات یومیه زندگی در حدی رسیده که برای نسل‌های چند دهه پیش از ما باور نکردنی بوده است. تکنولوژی هوشمند عرصه‌های مختلف اعم نظامی و ملکی را درنوردیده و با گذشت زمان دقت عمل آن بیشتر و ساحهٔ پوشش آن گسترده‌تر می‌گردد. امروز بهترین و منطقی‌ترین روش برای حل مشکلات اقتصادی، اجتماعی و غیره استفاده از تحقیقات علمی است. بشر امروز با آنکه مسایل و معضلات زیادی را حل کرده و تسهیلات زیادی را فراهم کرده است، اما این به معنای آن نیست که دیگر سوالی برای بشریت باقی نمانده و دیگر مشکلی هم در سر راه آن قرار ندارد. هر قدر که علم و دانش توسعه یافته و تکنولوژی پیشرفته‌تر شده به همان اندازه زندگی بشری پیچیده‌تر و بیشتر وابسته به تکنولوژی روز گردیده است، این وابستگی در ضمن همه سهولت‌های که برای انسان معاصر ایجاد کرده است، یک سلسله مشکلاتی را هم پیدا کرده که نیاز به حل دارد و هزاران سوال جدید

را نیز برای بشر ایجاد کرده است، لذا با توسعهٔ علم و دانش و تکنولوژی نیاز به تحقیقات علمی نیز افزایش یافته و دامنهٔ تحقیقات علمی نیز گسترده‌تر گردیده‌است.

**بیان مسأله**

امروزه، عصر علم و فناوری است و ارزشمندترین دارایی کشورها، دانش و تحقیق است. کشورهایی که به دانش اهمیت داده و در تحقیقات علمی سرمایه‌گذاری کرده‌اند، به قدرت و پیشرفت دست یافته‌اند و در تکنولوژی و اقتصاد پیشرو هستند. اما کشورهایی که از این مسیر دور مانده‌اند، در تأمین نیازهای اولیه شهروندان خود با مشکل مواجه‌اند. در افغانستان، با توجه به کمبود سواد عمومی و ضعف در تولید علم، ضرورت ترویج تحقیق و جلب توجه مسئولان و تحصیل‌کردگان به اهمیت دانش و تحقیق بیش از پیش احساس می‌شود. این تلاش‌ها می‌تواند راه‌حلی برای چالش‌های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی کشور باشد و به رشد و بهبود شرایط زندگی مردم کمک کند.

**اهمیت و ضرورت تحقیق**

افغانستان با مشکلات گسترده و چالش‌های فراوانی در زمینه‌های سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی روبه‌روست؛ مشکلاتی که جامعه را بیمار کرده و نیازمند راه‌حل‌های علمی است. بررسی اهمیت تحقیقات علمی در این زمینه، فرصتی است برای درک نقش تحقیقات علمی در حل مسائل سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشور. با افزایش آگاهی دربارهٔ اهمیت تحقیقات علمی، می‌توان توجه جامعهٔ علمی افغانستان را به سوی استفاده از روش‌های علمی برای بهبود شرایط جلب کرد.

**اهداف تحقیق**

تحقیق حاضر در پی آن است تا اهمیت تحقیقات علمی در جهان امروز را روشن ساخته و ضرورت توجه ویژه به تحقیقات علمی را در شرایط کنونی افغانستان تبیین کند. افغانستان با انبوهی از مشکلات سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و

فرهنگی مواجه است که حل مؤثر آن‌ها مستلزم به‌کارگیری روش‌های علمی و تحقیقات دقیق است. در حال حاضر، برخوردهای احساسی و غیرعلمی به مشکلات بیشتر دیده می‌شود که خود مشکلات جدیدی را به همراه دارد و نشان‌دهندهٔ کمبود درک اهمیت تحقیق در این جامعه است.

هدف اصلی این مقاله، افزایش آگاهی نسبت به نقش تحقیقات علمی در توسعه و پیشرفت کشورهاست. با تحلیل و توضیح اینکه چگونه کشورهای دیگر با تکیه بر تحقیقات علمی به توسعه دست یافته‌اند، این پژوهش تلاش دارد تا نشان دهد که ارتقای ظرفیت علمی و تولید دانش در افغانستان می‌تواند زمینه‌ساز پیشرفت در عرصه‌های مختلف باشد.

همچنین، مقاله به اهمیت ارج‌گذاری به تلاش‌های علمی و نقش کلیدی اساتید و پژوهشگران اشاره دارد. با توجه به بی‌سوادی گسترده در افغانستان و درک اندک جامعه نسبت به اهمیت دانش، مقالاتی از این دست می‌تواند به ارتقای جایگاه تحقیقات علمی و بالا بردن درک عمومی کمک کند.

مزدا پرستي چې هغه ته زردشتي آئین هم وایې، یوه توحیدي هستي پیژندنه ده، دغه توحیدي هستي پېژندنه د زردشت له زده کړو څخه سرچینه اخلي، په مزدایي نړۍ لید کې دنیا د خیر او شر د جګړې میدان دی چې په پای کې نېکي په بدي بریالۍ کېږي. په یونان کې د فلسفې د پیدایښت له دلیلونو څخه یو دا دی چې هلته نظام جوړونې ته تمایل موجود و. اوس به د دې مسألې د لاښه وضاحت له پاره چې ختیځ فکر په یوناني فلسفه باندې کلک اغېز درلودلی دی، د ژ. بیده بیان راواخلو. ژ. بیده (J. Bidez ) وایي: « د لرغون پېژندونکو کیندنې په دې وتوانېدې چې د «هرکولانوم» په کوچنی ښار کې د « وزوویو» (Vesuvio) د اور اچونکي غره د مذابو موادو لاندې څخه نسبتاً لویه کتابخانه راوباسي. دغه کتابخانه د پیزو (Piso) په نوم یو کس پورې چې د «هرکولانوم» ښار د وخت حاکم و، متعلق وه. د دې کتابتون د تورو شویو اسناد منځ کې داسې لیک تر لاسه شوی دی چې د افلاطون د اکاډمي تاریخ په باره کې او د ده د ژوند د وروستیو شیبو په اړه راپور ورکوي. دغه راپور ورکونکی داسې کس دی چې د افلاطون شاګرد او منشي دی او نوم یې فیلیپوس اوپونتي (Philippe Doponte) دی. همدا کس د «محاوره قوانین» او د « محاوره اپینومیس» تصحیح کوونکی اومدون هم دی. د فیلیپوس او پونتي په لیک کې راغلي دي چې افلاطون د احتضار په وخت داسې یو ځوک خپل ځانته مني چې لقب یې کلداني دی. دغه کس ظاهراً په یونان کې د کلداني زده کړو مبلغ و. هغه د مرګ په حال کې د افلاطون د تسلي په خاطر دهغه سر ته ناست و. د دې راپور منځپانګه د نورو لرغونو

متونو په رڼا کې تاییدیږي. پاوزائیاس  هم د افلاطون په زده کړو کې د کلداني او مجوسي یعنې زردشتي د اغېزو راپور ورکوي. د فیلیپوس  اوپونتي په لیک کې دا هم راغلي دي چې  اپیکوریانو افلاطون په نجومیاتو ولاړه د پردیو په زده کړه، چې د یوناني روحیې خلاف ده تورن کړی دی. د ورنریگر (WernerGaeger) په وینا یو بل کس هم چې د زردشتي زده کړو پیر و، د افلاطون په اطرافیانو کې یې حضور درلود. هرمودوروس چې د افلاطون ژوند لیک لیکونکی و، هغه هم د افلاطون د سفرونو څخه او د مغان د آئین  سره د افلاطون د بلدتیا څخه خبرې کوي. روز (Rose)  هم د افلاطون په نیکۍ ولاړ د یو نوي دیانت موسس گڼي چې د زردشت رسالت یې تعقیب کړی دی. په پایله کې ویلای شو چې د «وست» او «بیده» د معلوماتو په اساس دا کره کیږي چې د ختیځ فکري لیدلوری په یوناني فلسفه باندې د پام وړ او بنسټیز اغېز کړی دی.(۱۵: انټرنیټ)

تر هغه ځایه چې د یونان په فلسفه پورې تړاو لري، دا ورڅخه څرگندیږي چې یوناني فلسفي تفکر، د میلاد تر مخه تر شپږمې پېړۍ پورې رسېږي. لومړنی یوناني متفکر چې په رښتیا سره فیلسوف ورته ویلی شو، هغه طالس دی، هغه د یو کسوف وړاندوینه کړې وه چې تر میلاد مخکې په ۵۸۵ کال کې پیښ شو. وروسته فیثاغورث او سقراط هغه دوه کسان دي چې لرغوني یوناني فلسفي تفکر یې په نوي مسیر کې واقع کړ. خو هغه وخت چې تر میلاد مخکې د هند شپږمې پیړۍ ته سر ورښکاره کوو، بلکل  د بیل حالت سره مخ کېږو، دغه دوره په هند کې د فلسفي تفکر د پیل دوره، نه بلکې د بدلون دوره ښکاري. دلته نورې د یونان په شان د فلسفې د سهار د پیلېدو خبرې نه شته، بلکې داسې څه دي چې هغه د فلسفې د ورځې بشپړه رڼایي بللی شو. دغه نور د بشري عقل د فلسفي تدقیق په اوږده  لار کې ماشومانه تگ نه دی، بلکې د داسې مرحلې ښکارندوی دی چې یوازې د پام وړ سفر وروسته کولای شو هغې ته ورسیږو. په هند کې د بودا او مهاویره تر ظهور

وړاندې، فلسفي فکر د پام وړ پرمختګ کړی و، داسې مکتبونه رامنځته شوي وو چې د يوې اوږدې دورې د فلسفې ژور او پراخ تفکر غوښتونکی وو. دا حقيقت چې هند وتوانېد د ميلاد تر مخه د ګوتمه بودا او مهاويره د تفکر لاره او برداشت وړاندې کړي، د دې ښکارندوی دی چې هغې سيمې تر هغه وخته پورې فلسفي پراخ او ژور فکر روزلی و او د دې کسانو له څرګندېدو څخه وړاندې هلته داسې چاپېريال شتون درلود چې د ژوند د اسرارو په باره کې بېلابېلو تعبيرونو او نظرياتو کولای شول وده وکړي او د ژوند له اسرارو سره په تړاو ډېر مسايل د حل تر کچې پورې نږدې کړي. خو بيا په يونان کې داسې فلسفي حالت تر ډېرې مودې پورې څرګند نه شو. ايونې فلسفه چې د يوناني مکتبونو څخه يو مکتب دی د ارواحو په داسې نظريه باندې باورمنده وه چې ستوري او نور اسماني اجرام څرګندوي.

په هند کې تل د فلسفې او دين تر منځ فرق کول شوني نه دي، دلته د يونان خلاف، فلسفه د اکاډمييو څلورو ديوالونو ته محدوده نه وه، بلکې د ټولو دين ګرځېدلی و، هغه ځوابونه چې ګوتمه بودا او مهاويره د وجود مسايلو لپاره پيداکړي و، اساساً فلسفي و، خو د هغوی زده کړې د مذهبي ټولنو رامنځته کېدونکې شوې. د يوناني فيلسوفانو په منځ کې سقراط د ډېرو لورو څخه يو رنګ لري، هغه اساساً فيلسوف و، د هغه ژوند زيات ورته والی د اسرائيلي پيغمبرانو او هندي جوګيانو سره لري. (٦: مخ.٧)

سقراط اکثراً د جذبې په حالت کې و، او په هاتف يا په معنوي داسې غږ باندې يې باور درلود چې هغه يې په ټولو بحراني شيبوکې هدايت کولو. هغه وخت يې چې د خپل ژوند په وروستيو ورځو کې د آتن محکمې ته خبرې کولې، د همدې باطني غږ د حکم يا امر څخه يې پيروي کوله، د دې سره سره يې سقراط د فيلسوفانو په ډله کې حساب کړی دی. د هغه پيروانو کوښښ ونه کړ چې د هغه د شخصيت يا زده کړو په بنسټ مذهبي ټولنه رامنځته کړي. دا ټکي د هندي او يوناني روح تر منځ په روښانه توګه توپير ښکاره

کوي. په یونان کې دیني عناصرو فلسفي ځانګړتیاوې پیداکړې او په هند کې خپله فلسفه په دین واوښته. په هند کې د او پانیشادها فلسفې د ګوتمه بودا او مهاویره د ظهور څخه وړاندې په پرمختګ پیل کړی و. اوپانیشادها د میلاد تر مخه په اتمه پیړۍ کې رامنځته شوي دي.

باید وویل شي هغه څه چې فلسفه د غیر فلسفې څخه بېلوي په موضوع کې د دوی توپیر نه دی، بلکې د دوی توپیر د بحث په میتود یا طریقه کې دی، که چیرې د یو چا استنتاجات د وحې د حجت په اساس یا د شخصي جذبې او خلسې په اساس وي، د هغه د لاسته راوړنو سم نوم الاهیات یا عرفان دی، نه فلسفه خو که چیرې هغه د عقلي تعبیر په میتود وکاروي او په دې باور شي چې باید د وجود راز په عقلي توګه حل کړي، نه شو کولای چې هغه د فیلسوفانو له صف څخه وباسو، آن که په هغه باندې دیني او عرفاني عقایدو هم اثر کړی وي. حقیقت دا دی چې د فلسفې مهم مسایل له همدې مباحثو څخه اخیستل شوي دي.

فلسفه د ژوند د ماهیت او د وجود په باره کې څېړنه ده. د واقعیت د بحث او ارزونې له پاره دوه لارې په مخ کې لرو، یوه په وحې او سنتو سره پیل او پای مومي او هغه دین بولو، بله چې په خپلواکه تفکر او عقل پورې تړلې ده هغه فلسفه بلل کېږي. فلسفي څېړنو له لرغونو زمانو څخه، د دې دوو لارو څخه یوه د خپلو مسایلو د حل له پاره اختیار کړې ده. یوه د انساني هستي د باطني یا معنوي دنیا له لارې او بله له دې څخه د باندې له لارې. د هندي تفکر ځانګړتیا داده چې د انسان باطني دنیا ته یې تر بهرنۍ دنیا څخه زیاته پاملرنه کړې ده. دغه تفکر له بهرنیو پدیدو سره په څېړنه نه پیل کېږي چې د هغه له لارې د واقعیت باطن ته لار پیداکړي، بلکې د دې خلاف د باطني دنیا په درک سره پیل کېږي او له هغه ځایه د پدیدو جهان خواته راځي، دا ډول برداشت د اوپانیشادو په فلسفه کې راڅرګند شو. په یونان کې هم لرغونو فلسفي مکتبونو همداسې لاره ونیوله یا لږ تر لږه دا ډول میتود د دوی له کُلي

برداشت څخه بهر نه و. هغه څه چې په اورفئوسي او فيثاغورسي فلسفه کې ښکاري دا مدعا تأييدوي. د سقراط ديالکتيکي روش له شکه پرته منطقي و، که څه هم ده ويل چې باطني غږ د هغه لارښوونه کوي. د يونان د ځينو فيلسوفانو پيغام هم، د هندي فلسفې په شان ((ځان دې وپيژنه)) و، د افلاطوني ايدياليزم په روش کې د راوروسته عرفان د تکامل نطفې وينو ځرنګه چې په باطني وجود باندې د تکامل د اګاهي نطفې ليدل کيږي، خو دهغه شاګرد ارسطو د دې دوو طريقو تفکرونو د هېڅ يو په پراخوالي کې لاس په کار نه شو. په هر صورت په پای کې عرفان ته په اسکندريه کې د ودې زمينه برابره شوه او په نوي افلاطوني فلسفه کې خپل اوج ته ورسېده.

د اورفئوسي آئين په اړه مؤرخان په دې کې واحد نظر لري چې دا مکتب د داسو عناصرو لرونکی دی چې په خپل ذات کې غير يوناني دی او له اسيايي سرچينې څخه يې خبرې کوي. له تن څخه د روح د خلاصون مفهوم د اورفئوسي آئين اصلي مضمون دی، تسلر وايي چې دا مفهوم له هند څخه ريښه اخيستې ده، خو له دې سره سره په دې باور دی چې يونانيانو هغه له ايران څخه تر لاسه کړی دی.(هماغه: مخ.۱۳).

موږ بايد دې ټکي ته پاملرنه ولرو چې هغه وخت په ايران کې زردشتي آئين په قوت سره شتون درلود.د هندي او يوناني فلسفې تر منځ يو بل ورته والی هم شته چې نه ښايی له پامه يې وغورځي، په يوناني فلسفه کې د عقل مفهوم د هندي فلسفې د آتمن له مفهوم سره چنداني بې شباهته نه دی، افلاطون د آناکساګوراس نظريات رد کړل او د دوو روحونو تر منځ په توپير قايل شو. يو يې نه فنا کيدونکی او بل يې فنا کيدونکی وبللو. فاني روح ((غير عقلاني روح)) (Irrational soul) د تن له تأثيراتو څخه آزاد نه دی او کولای شو هغه (( من)) (Ego) وبولو. نه فناکېدونکی روح (( د جهان مثال )) (Idea of the universe) يا کلي مثال دی او د تن له ټولو اغيزو څخه آزاد دی. هغه دا نه فناکېدونکی روح (( جهاني روح)) يا کلي روح بولي. که چيرې وغواړو چې د

افلاطون د فناکېدونکی او نه فناکېدونکی روح مفهوم سره مقابله کړو، وبه وینو چې د هندي فلسفې د جیو آتمن او پرم آتمن تر منځ کوم تفاوت او تقابل وجود نه لري. (هماغه: مخ.۱۱)

د فيثاغورث فلسفه د داسې عناصرو لرونکې ده چې ځانګړي د هندیانو دي. که چیرې د ده د نوم له اخیستو پرته د ده فلسفه شرحه شي دا ممکنه ده چې د هندي فلسفې څېړونکي به په اسانۍ سره هغه د هندي فیلسوف په ځای ومني. فروغي څرګندوي چې وروستنیو افلاطونیانو په خپلو نظریاتو کې د ختیځ له عرفاوو څخه ګټه اخیستې ده، هغه وايي: ((هغه اشارې چې د یونان ځینو لیکوالانو د هند مرتاضانو ته کړې دي او هغو يې لوڅ (Gymnosophistes) حکما بللي، د دې نظريې تأييد دي چې هغوی له ختیځ څخه ګټه اخیستې ده)).(۱۱: مخ.۵٦)

د سکندر د ژوند په راپورونو کې راغلي دي چې د هغه معلم، ارسطو له هغه څخه غوښتي وو چې غوارې د هندیانو په منځ کې له معارف څخه خبر شي. دا د دې مسألې څرګندونکې ده چې د هندي حکمت آوازه د سکندر له حملې وړاندې یونان ته رسېدلې وه.(٦: مخ.۱۳)

د هندیانو او یونانیانو تر منځ متقابلې اړیکې د اشوکه له عصر څخه وړاندې ټینګې شوې وې، دا ټکی څرګندوي چې د دوی تر منځ راکړه ورکړه تر سره شوې ده. یوناني فیلسوفانو د طالس له وخته چې د فلسفې مکتب بنسټ ایښودونکی و، له ختیځ سره اړیکې پیداکړې دي. نومینوس (Numenius) چې د آپامي له خلکو څخه دی وايي: ((هغه وخت چې فیثاغورث او افلاطون ایران ته راغلل، لرغوني مغان حکمت او هم يې هندي برهمنان حکمت، یونان ته معرفي کړل)). (۷: مخ.۳)

**پایله**

په پایله کې ویلای شو چې لرغوني یوناني فلسفه د لرغوني ختیځ له فکري چوکاټ څخه په ژوره توګه متأثره شوې ده. په ختیځ کې د فکري جوړښت

شکل نيونه له يونان څخه ډېره پخوا پيل شوې ده، په همدې دليل يوناني فلسفې ته د حقيقت د درک له پاره په تياره څه لاس ته ورغلل او يونانيانو په څه کمولو او زياتولو سره دا کمال درلود چې له هغو څخه نوي څه جوړ کړي. په دې ترڅ کې د لرغوني افغانستان د زردشتي آئين د زده کړو بنسټيزې اغېزې تر نورو زياتې د پام وړ دي، دا اغېزې د لرغوني يونان د ډېرو مفکرينو په فکري جوړښت کې په يو نه يو ډول شتون لري.

**مأخذونه**


۱- استفان، پانوسی. تأثيرات فرهنگ و جهان بيني ايرانی بر افلاطون، مؤسسه پژوهشی حکمت و فلسفه ايران: تهران،۱۳۸۱.

۲- حبيبي، عبدالحی. د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالروف بينوا، دويم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه: پيښور، ۱۳۸۲.

۳- حبيبی، عبدالحی. تاريخ مختصر افغانستان، جلد اول، د کتاب چاپولو موسسه: کابل، ۱۳۴۶.

۴- دورانت، ويل. تاريخ تمدن، ترجمه امير حسين آريان پور، جلد۲، انتشارات علمی و فرهنگی: تهران، ۱۳۷۶.

۵- دوستخواه، جليل. اوستا کهن ترين سرود های ايرانيان، چاپ۸ ، انتشارات مرواريد: تهران، ۱۳۸۳.

٦- رادا کريشنان، سروپالی. تاريخ فلسفه شرق و غرب، مترجم خسرو جهانداری، چاپ۲ ، جلد اول، انتشارات علمی و فرهنگی: تهران، ۱۳۸۲.

۷- رادا کريشنان، سروپالی. تاريخ فلسفه شرق و غرب: تاريخ فلسفه غرب، ترجمه جواد يوسفيان، چاپ دوم.جلد دوم، شرکت انتشارات علمی و فرهنگی: تهران، ۱۳۸۲.

۸- راسل، برتراند. تاريخ فلسفه غرب، ترجمه نجف دريا بندری، جلد اول، انتشارات شرکت سهامی افست: تهران، ۱۳۴۷.

۹- رُنان، کالین. تاریخ علم کمبریج، ترجمه حسن افشار، انتشارات نشر مرکز: تهران، ۱۳٦٦.

۱۰- فاخوری، حنا، جر، خلیل. تاریخ فلسفه در جهان اسلامی، مترجم عبدالمحمد آیتی، چاپ۷، انتشارات علمی و فرهنگی: تهران، ۱۳۸۳.

۱۱- فروغی، محمدعلی. سیر حکمت در اروپا، چاپ دهم، انتشارات زوار: تهران، ۱۳۹٦.

۱۲- کاپلستون، فردریک چارلز. تاریخ فلسفه یونان و روم، مترجم جلال الدین مجتبوی، چاپ۸ جلد ۱، انتشارات علمی و فرهنگی: تهران، ۱۳۸۸.

۱۳- کومون، فرانس. ادیان شرقی د کافرکیشی رومی، ترجمه تیمور قادری، انتشارات امیر کبیر: تهران، ۱۳۸۳.

۱۴- کهزاد، احمد علی. تاریخ افغانستان، چاپ دوم، جلد اول، انتشارات میوند: کابل،۱۳۸۴.

۱۵- پانوسی، استفان. «تاثیرات شرقی در فلسفه یونانی»، کتابخانه مجازی الفبا،

لاسرسی

https://alefbalib.com/Metadata/655078/%D8%AA%D8%A3

مراجعه: [۱۱ / ۲ / ۱۴۰۳].

څېړندوی وجیه الله ظهیر

# د علامه سید جمال الدین افغاني شخصیت او سیاسي مبارزه

# The personality and political struggle of Sayed Jamaluddin Afghan

***Assistant professor Wajiullah Zaheer***

**Abstract**

Allama Sayed Jamaluddin Afghan, who had earned the great title of "Genius of the East" for himself, was born in Asad Abad, capital of Kunar province in a pious family of Sadaat tribe in 1838.

In his childhood, Sayed Jamaluddin Afghan started his basic education from his father and the best teachers of his neighborhood, and later he pursued modern science studies from well-known scholars in Kabul and then in Iran.

After his education, Allama Sayed Jamaluddin Afghan found his way to the court of Amir Dost Muhammad where he was assigned on a high ranked position in Amir’s kingdom due to his particular talent, knowledge and respected family.

After the death of Amir Dost Mohammad, Amir Sher Ali Khan became his successor. Allama Sayed Jamaluddin Afghan had good relations with him too in his this tenure. When his student (Amir Muhammad

Azam Khan) became the king of the Emirates, Allama Sayed Jamaluddin Afghan became his special adviser, some narrations say that he even became prime minister of his kingdom.

Allama Sayed Jamaluddin Afghan was still living in the country during the internal conflicts between the sons of the late Amir Dost Muhammad Khan, but when Amir Sher Ali Khan came to power for the second time, he was defamed by some conspirators in the court blaming him not in favor of Amir and finally he was forced to leave the country.

Before Allama Sayed Jamaluddin Afghan departs the country, he submitted a comprehensive and well-designed plan to Amir for reforms and development.

After that, Sayed Jamaluddin Afghan traveled a lot according to his political policy and was able to convey his Islamic, national and political thoughts to the world.

Sayed Jamaluddin Afghan's political struggle revolved specifically on the unity and strength of the Afghan nation and the Islamic Ummah as a whole. He wanted to see an independent and free Afghanistan in his life and defeat the conspiracies and of the British occupiers and the supporters of the school of imperialism.

Allama Sayed Jamaluddin Afghan lived for these best goals and struggled a lot to achieve these goals. These and other similar issues are what I have discussed in this scientific-research and I have summarized it with the preface, conclusions and recommendations.

**لنډيز**

علامه سيد جمال الدين افغاني چې د" ختيځ نابغه "ستر لقب د ځان لپاره خپل کړی، د کونړ ولايت د اسعد آباد په سيمه کې يې په يوې ديندارہ کورنۍ او د ساداتو په قوم کې دې نړۍ ته په(۱۸۳۸ ز = ۱۲۱٦ ل)کال سترګې

غړولي . سيد په کوچنيوالي کې زده کړې له خپل پلار او د چم مالت له غوره ښوونکو څخه وکړې او وروسته يې په کابل او بيا ایران کې د وخت مروجه علوم له غوره او پوهو علماوو څخه زده کړل.له زده کړو وروسته علامه افغاني د امير دوست محمد دربار ته لاره پيدا کړه او هغه ورته د ځانګړي ذکاوت، پوهې او د درنې کورنۍ له امله په خپل سلطنت کې غوره او لوړ مقام ورکړ.

د امير له مرګ څخه وروسته د هغه ځايناستی(امير شېرعلي خان) شو، هغه سره هم علامه افغاني په پيل کې نېکې اړيکې درلودې او کله چې يې شاګرد(امير محمد اعظم خان) د امارت په څوکۍ کېناست، نو علامه افغاني د هغه د سلطنت په کمه موده کې د هغه ځانګړی مشاور او د ځينو رواياتو له مخې صدراعظم شو. علامه افغاني د مرحوم امير(دوست محمد خان)د زامنو ترمنځ کورنيو جګړو کې هم هېواد کې مېشت و، خو کله چې امير شيرعلي خان د دوهم ځل لپاره واک ته ورسېد، په دربار کې د يو شمېر دسيسه کوونکو له لوري چې ګواکې د علامه افغاني فکر ستاسو په ګټه نه دی، تخريب شو او بالاخره هېواد پرېښودلو ته مجبور شو .

مخکې له دې چې علامه افغاني هېواد ترک کړي، امير ته يې د اصلاحاتو او ترقۍ يو منظم هر اړخيز پلان تسليم کړ. نوموړي له هغې وروسته د خپلې سياسي پاليسۍ او سياست له مخې ډېر سفرونه وکړل او ويې کولی شول چې خپله اسلامي، ملي او سياسي مفکوره تر نړيوالو ورسوي.

د علامه افغاني سياسي مبارزه، په ځانګړي ډول د افغان ملت او په ټوله کې د اسلامي امت په يووالی او وحدت څرخېده. هغه غوښتل چې په خپل ژوند يو خپلواک او مستقل افغانستان ووينی او د انګرېزي ښکېلاکګرو او د امپرياليزم د مکتب د پلويانو توطيې او دسيسې شنډې کړي .

علامه افغاني د همدغو غوره موخو لپاره ژوند وکړ او په دې لاره کې يې ډېرې سختې او ربړې ولیدې .دا او دې ته ورته نور مسايل هغه څه دي چې ما

په نوموړې علمي -څېړنیزې مقالې کې ورته ځای ورکړی او په سریزې، پایلې او غوره وړاندیزونو مې پای ته رسولې.

**سریزه**

د ختیځ نابغه او د افغانستان د معاصر تاریخ ځلانده او روڼ ستوری(علامه سید جمال الدین افغاني) داسې مهال خپله اسلامي، سیاسي او ملي مبارزه پیل کړه چې افغانستان هغه مهال د نیمه مستعمره هېواد په توګه د آسیا په زړه کې قرار درلود. دا هغه وخت و چې د برتانوي هند راج زموږ پر ګران هېواد چلېده او داسې فکر او شخص نه و چې پر وړاندې یې په کلکه ودرېږي او چلنج یې کړی. که هر چارواکی به د واک پر ګدۍ کېناست، له مجبوریته به یې د برتانوي هند ګټې پاللې او د افغانستان بهرنۍ سیاست د انګرېزي ښکېلاکګرو په تورو او وحشي لاسونو کې و.

دغسې یو بد او کرغېړن حالت د هېواد یو تکړه عالم، داعي او ملي شخصیت (علامه افغاني) دې ته وهڅوه چې د دغه استعماري قوت پر وړاندې سیاسي مبارزه پیل کړي او د دوی له دسیسو او بدو توطیو افغان ملت او په ټوله کې اسلامي امت خبر کړي.

علامه افغاني وکولی شول چې په کم وخت کې دغه ښکېلاکګر چلنج کړي او ورته ثابته کړي چې د دې هېواد په بچیو کې لا تر دې دمه یو څوک شته چې د دوی پر خلاف ودرېږي او شوم پلانونه یې د ژبې او قلمي مبارزې له مخې خنثي کړي او په هر ډګر ورته ماتې ورکړي.

په دغه علمي – څېړنیزه مقاله کې چې له غوره او معتبرو منابعو څخه په کې ګټه اخیستل شوې، دا او دې ته ورته نور موضوعات چې د علامه افغاني سیاسي مبارزه په بر کې رانغاړي، پرې بحث شوی او دغې مقاله پرې پوره شوې.

**د څېړنې مبرمیت**

دا چې د ختيځ نابغه(علامه سيد جمال الدين افغاني) د هېواد د معاصر تاريخ یو له نومیالیو مبارزینو، مفکرینو، عالمانو، لیکوالانو او سترو داعیانوله ډلې څخه یوه وتلې څېره ده، نو اړتیا وه چې په علمي،ټولنیز شخصیت او سیاسي مبارزې باندې يې هر اړخیز بحث وشي، څو راتلونکی نسل يې له خدمتونو، ستړیاوو او هلو ځلو څخه په پوره معنا خبرتیا ترلاسه او خپل راتلونکی پرې روښانه کړي.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنیزې - علمي مقالې بنسټیزه موخه دا ده چې د علامه سيد جمال الدين افغاني په شخصیت، فعالیتونو او سیاسي مبارزې باندې د وس په توان په رښتینې معنا هر اړخیزه څېړنه د ګټې اخیستنې لپاره ترسره شي.

**د څېړنې مېتود**

په دې علمي – څېړنیزه مقاله کې د څېړنې له توصیفي، تحلیلي، تشریحي او تاریخي مېتودونو څخه ګټه پورته شوې او هڅه شوې چې په څېړنه کې د څېړنې ټول اصول په ښه ډول رعایت شي.

**د څېړنې پوښتنې**

د ختيځ نابغه(علامه سيد جمال الدين افغاني) څرنګه شخصیت درلود؟ د خپل ژوند په دوران کې يې خپله سیاسي مبارزه د کومو اصولو او قوانینو له مخې پرمخ یوړه او د یادې مبارزې په پایله کې په ټولنه کې کوم تغییرات او نوښتونه رامنځته شول؟

**۱ – د علامه سيد جمال الدين افغاني پېژندنه**

سيد جمال الدين افغان په (۱۸۳۸ ز = ۱۲۱٦ ل) د کونړ ولایت د (اسعد آباد) په سیمه کې او د (سید صفدر) په کور کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې چې د نسب سلسله يې د سید علي ترمذي(بشیر غوث الاعظم دستګیر) له لارې زموږ د مهربانه پیغمبر صلی الله علیه وسلم، د نازولي لمسي (امام

حسین رضی الله عنه) ته رسېږي. د علامه افغاني کورنۍ د کونړ له نامتو سیدانو څخه ده چې نه یواځې په کونړ، بلکې د افغانستان د امیرانو په دربار کې هم ورته د قدر په سترګه کتل کېدل.(۱۰: ۳ مخ)

علامه افغاني میانه قد، غنمي رنګ او تند مزاج درلود. د سرکاسه یې برابره غټه وه اوتندی یې په مناسب ډول پلن و. سترګې یې غټې وې او مخ یې غوښن و. سینه یې پراخه او ډېر با وقاره او ښایسته ښکارېده. په لومړي ملاقات کې به یې لوی هیبت درلود. له سترګو څخه به یې ځلا ختله، داسې چې ګمان به کېده چې په توره تیاره کې برق ځلېږي. د اخلاقو په اړه یې تکړه شاګرد محمد عبده وایي: د زړه سلامتیا او سپېڅلتیا یې په ټولو خویونو او اوصافو کې له ورایه معلومېده. حلیم او سنګین انسان و. صبر او حوصله یې درلوده او ډېر شیان یې زغملی شول. د خپل دین، عقېدې او شرف پر وړاندې ډېر حساس و. که چا به په دې شیانو وننګوه، نو د حلم او نرمۍ ځای به یې غوسې او قهر نیوه. د دې ترڅنګ دومره سخي او جواد و چې هر څه به یې په لاس کې و، د اړتیا پر مهال به یې له خلکو نه درېغول. په خدای ج یې کلک او ټینګ باور و. د زماني پېښو باندې یې خپل چورت نه ورانوه. په امانت کې یې خیانت نه کوه. د نرم چلند پر وړاندې نرم او د سخت چلند په مقابل کې تر هر چا سخت و.(۴: ۲۸۴مخ)

په افغانستان کې د سید جمال الدین کورنۍ د غټ نفوذ او اقتدار خاونده وه او د افغانانو په زړونو کې یې لوړ مقام درلود او درناوی یې کېده. د درناوي سبب یې هم سید توب و. داسې ویل کېږي چې د افغانستان په یو ګوټ کې یې په خپلواک ډول حکومت کاوه چې د یو ولایت په اندازې و، ترڅو چې امیر دوست محمد خان پرې غلبه وکړه او د علامه افغاني پلار او ترونه یې کابل ته واستول.(۴: ۲۵۵مخ)

دا چې امیر د علامه افغاني پلار(سید صفدر) ته د قدر په سترګه کتل، نو ځکه یې  په دربار کې ورته لوړ مقام هم ورکړ. دا هغه وخت و چې د علامه

افغاني سن(۸) کلونو ته رسېدلی و. د نوموړي پلار له لومړي وخته د خپل زوی په ذکاوت، هوښیارتیا او ځیرکتیا باندې پوهېده، نو ځکه یې د وخت غښتلو علماوو او پوهانو ته کېنوه. که څه هم د علامه افغاني لومړی استاد خپل پلار دی، خو بیا یې هم وکولای شول چې په کم وخت کې د پلار د درس ترڅنګ له نورو ښوونکو هم د وخت مروجه علوم زده کړي. د بېلګې په توګه په صرف، نحوې، معاني، تصوف، ریاضي، هندسه، نجوم، تاریخ، تشریع، طبیعي حکمت او په نورو علومو یې پوره برلاسي ترلاسه کړه. د کونړ د اسعد آباد د سیمې دغه شخصیت، په کمکیتوب کې له ځانه ډېر متبحرانه نوښتونه ښودل او په زلمیتوب کې یې د نابغه توب او د علم آوازې هر لور ته خورې شوې.(۱۱: ۹ – ۱۰ مخونه)

علامه افغاني (۷)کلن و چې کورنۍ یې کابل ته راغله او همدغه وخت یې خپلې زده کړې پیل کړې او د یو شمېر علومو زده کولو وروسته یې د نورو زده کړو لپاره د ایران «قزوین» نومې سیمې ته ولاړ. تر(۱۸)کلنۍ پورې هملته و او د (مرتضی انصاري) او نورو علماوو څخه یې د مروجه علومو په برخه کې ډېر څه ترلاسه کړل. له هغه ځایه د لا زیات علم د یادولو په موخه هند ته ولاړ. په هند کې یې یو کال تېر کړ او وروسته له هغې د مکې پر لور وخوځېد او هلته یې د حج مبارکه فریضه اداء کړه. د دغو سفرونو په لړ کې نوموړي هم زده کړې وکړې او هم یې د فکر یوه برخه د ګاونډیو هېوادونو په سیاسي او ټولنیز حالت بوخته وساتله. وروسته د مکې له سفر څخه د ایران له لارې بېرته خپل هېواد ته را وګرځېد.(۵: ۴۵ مخ)

د علامه افغاني د شخصیت په اړه په ټوله کې ویلی شو چې نوموړی د افغانستان او اسلامي نړۍ یو وتلی عالم او ټولنیز شخصیت و. هغه د خپل ژوند په لړ کې په زیاتو هېوادونو ګرځېدلی و. په ګڼو ژبو لکه پښتو، فارسي، اردو، انګلېسي، عربي، ترکي او فرانسوي پوهېده. د ده ټول ژوند له منډو ترړو او ستړیاوو ډک و. زیات سفرونه یې کول چې ځینې یې په خپله خوښه او

ځينې به يې د سياسي مجبوريتونو له امله وو. د حيرانتيا وړ خبره دا وه چې کله به کوم هېواد ته ولاړ، پيل کې به د يادو واکمنانو له لوري له تود هرکلي سره مخامخ شو، خو وروسته به ورسره مخالف شول. علامه افغاني د اسلامي هېوادونو وروسته پاتې والی او په هغو کې د اروپايي هېوادونو نفوذ، سياسي ځواک او پرمختګ په سترګو ليده او په دې اړه به يې تل ويناوې او بحثونه کول.(۵: ٦ ۴ مخ)

**الف – د علامه سيد جمال الدين افغاني په اړه د پوهانو نظريات**

که څه هم سيد جمال الدين افغاني ډېر معرفت او پېژندنې ته اړتيا نه لري، هر تعليم يافته او پوه شخص يې له نوم سره څه ناڅه آشنا دی، خو بيا هم د بحث د ښکلا او بډاينې لپاره غواړم د څو محدودو پوهانو نظريات چې د علامه سيد جمال الدين افغاني په اړه يې ويلي، دلته را نقل کړم.

استاد محمد عبده چې د مصر هېواد يو نامتو او منلی عالم دی هغه د علامه افغاني په اړه ويلي، هغه تېز نظر او ډېره دانايي چې لوی او بخښونکي خدای ج په چا پېرزو کړې هغه داسې وي لکه سيد جمال الدين. زياتوي، په دې سليزه کې د اسلام مبارک دين د جاګيردارانو د ظلم پر سبب د نابودۍ کندې ته سپارل کېده، خو همدا و چې دين يې دنابودۍ له تورې کندې څخه وژغوره او پرې ننګ يې وکړ او دين ته يې د انسانيت د پېژندګلوۍ لوړ مقام په برخه کړ.

سيد جمال الدين افغاني چې د شرق او غرب د عالمانو او فاضلانو د ځانګړې پاملرنې وړ دی، په اړه يې يو امريکايي ليکوال ليکي، سيد جمال الدين د مسلمانانو له ډلې څخه لومړنی کس دی چې د غرب د واکمن کېدو او ځواکمن کېدو خطره يې په شرق کې د اسلام د دين لپاره د ډار او لوی خطر زنګ وباله. ډاکټر چارلز يې په اړه وايي، د هغه لوړ مقامه څېرې ټولې نړۍ ته لار ومونده او هر ځای يې لويې غونډې او جرګې وکړې.

دغه راز برناد مشیل یې په اړه زیاتوي، عامه افغاني چې هر وطن ته تللی، هلته به حرکتونه او انقلابونه رامنځته کېدل او هلته به ولسونه لکه د دېګ په شان په جوش راتلل. مستر بلانت یې په اړه لیکي، د علامه افغاني نابغه توب او لوړوالی په دې کې دی چې کله به دخطابې میز ته ودرېد، کوښښ به یې کاوه چې د اسلامي هېوادونو پاملرنه د اسلام دین اساسي کړنلارې ته جلب کړي او هم مسلمانان علمي روزنې ته لېواله کړي. ارنست رنان وایي، په لومړۍ لیدنه کې مې نوموړی د یو آزاد او خپلواک انسان په توګه وموند. همدارنګه مستر براون داسې عقیده لري، د سید جمال الدین د ژوند مبارزې او تاریخ ته کتنه، د شرقي حکومتونو او دولتونو تاریخ ته ځغلنده کتنه ده، په دې معنا چې حقایق درته ښکاره کوي. فرانسوي لیکوال رشفورد بیا وایي، په دې کې هېڅ شک نشته چې سید جمال الدین د آخرې زمانې پیغمبر سره د وینې پیوند لري. ولیام مکلوري کاناډایي لیکوال بیا علامه افغاني هغه څراغ ګڼي چې د ټول شرق لپاره یې لاره روښانه کړې.(۲: ۲۱ – ۲۹ مخونه)

**ب – د علامه سید جمال الدین افغاني اصلیت او ملیت**

د علامه افغاني د ځای او اصلیت په هکله ډول – ډول لیکنې او خبرې شته، هغه داسې چې ځینې یې افغان او ځینې یې د ایران بولي، خو هغه لیکنې چې په واقعیتونو ولاړې دي او ډېر پیروان لري هغوی په دې باور دي چې علامه افغاني اصلاً افغان(ملت یې افغان) دی او د کونړ د ولایت د اسعد آباد په سیمه کې زېږېدلی، نه د ایران په اسعد آباد کې.(۲: ۱۲ مخ)

برهان الدین قلیچ خان چې د علامه افغاني یو له تکړه شاګردانو ځینې و، هغه وایي چې ما یو ځل له خپل استاده وپوښتل چې ځینې خلک تا ایرانی بولي، د دې سبب څه دی؟ هغه وویل، زه د کونړ د سیدانو له مشهورې کورنۍ څخه یم. د شیخ جمال الدین په نامه یو مبلغ د ایران اوسیدونکی و، کوم ځای ته چې زه تللی یم نو هغه هم تللی و، په دې سبب ځینې وګړي په نا فهمۍ سره ما شیخ جمال الدین ګڼي، په داسې حال کې چې داسې نه ده او

دا گمان ډېر ناسم، ناوړه او او درواغ دی. زه کله هم ایرانی نه یم، بلکې افغان یم او په دې خبره ټول افغانان شاهدان دي او ما پېژني.(۱۲: انټرنټ)

دغه راز د کونړ پخوانیو خلکو ته هم ښه معلومه ده چې علامه افغاني د کونړ د اسعد آباد(صفدر کټ) په کلي کې نړۍ ته سترګې پرانیستي دي. دا چې ایرانیان یې ایرانی بولي او د همدان د اسعد آباد کلي ته یې منسوبوي، ترکیان یې ترکیې ته او هندوستان یې هند ته منسوبوي، دا د هغوی تشې دعوې دي، خو دا موضوع لکه د لمر په څېر روښانه ده چې هر هېواد غواړي نړیوال او وتلي شخصیتونه او د هغوی ویاړلی مقام ځان ته منسوب کړي، خو بیا واقعیت د دوی په خوښه نه تاییدېږي. د غه ټول نظریات په دې سم نه دي چې د علامه افغاني د نظر خلاف خبرې دي، ځکه چې هغه خپله د خپل افغاني توب د ثقه ثبوت سند داسې وړاندې کړی دی: «من سکنة کابل من اهالی الأفغان سید جمال الدین من سادات کنر».(۱۱: ۱۲ مخ)

## ۲ – د علامه سید جمال الدین افغاني سیاسي هڅې

سید جمال الدین افغان داسې مهال سترګې دې نړۍ ته غړولي او په داسې یوې ټولنه کې تر زلمیتوب پورې رسېدلی، چې هغه مهال افغانستان په یوه نیمه مستعمره حالت کې قرار درلود، په دې معنا چې افغانستان په داخلي امورو کې خپلواک او په بهرني سیاست کې د انګرېزانو د سیاست تابع و.

همدغه حالت ته په کتلو سره علامه افغاني وکولای شول چې په ځوانه ځواني کې د افغانستان شاهي دربار ته لاره پیدا کړي او د افغانستان د ریښتینې سیاسي خپلواکۍ د ګټلو لپاره او دغه راز د اسلام د خپراوي او د امپریالېزم د مخنیوي لپاره خپله سیاسي مبارزه په لاره واچوي، په کومه کې چې تر ډېره بریده بریالی هم و او ویې کولی شول چې خپل خپلواک سیاسي فکر، طرحې او پلانونه د هغه مهال تر چارواکو ورسوي، سفرونه وکړي او په دې لاره کې بې شمېره لارویان پیداکړي. په همدې اساس دلته لومړی اړینه

بولم چې د افغانستان په شاهي دربار کې د علامه افغاني په سیاسي مبارزې او بیا یې په نورو سیاسي هلو ځلو لږ رڼا واچوم.

## الف – د افغانستان د سیاسي خپلواکۍ د ګټلو لپاره د علامه سید جمال الدین افغاني سیاسي مبارزه

علامه افغاني چې کله د حج د فریضې د اداء کولو په خاطر حجاز(مکې) ته ولاړ، نو دغه مسافرت یې یو کال اوږد شو، په دغه موده کې له یو ښار نه بل ښار ته او له یو هېواد نه بل هېواد ته ولاړ. په دغه موده کې نوموړی د هغو ملتونو له ډېرو دودونو او رواجونو سره آشنا شو او ویې کولی شول چې ستره ګټه ترې واخلي. کله چې د ایران له لارې بېرته خپل هېواد ته راستون شو، نو د امیر دوست محمد خان دربار ته یې لار پیداکړه او د هغه د باور وړ وګرځېده.

وروسته چې کله امیر بیا په هرات باندې یرغل ور وړ، علامه افغاني هم ورسره ملګرتیا کوله او د هرات د محاصرې په ټوله دوره کې ورسره و، تر دې چې امیر دوست محمد خان په هرات کې وفات شو او بیا هرات له اوږدې محاصرې وروسته فتحه شو. د امیر له وفات وروسته(۱۸۶۰ ز = ۱۲۸۰ ل) د امارت په څوکۍ امیر شېرعلي خان کېناست او د پلار ځایناستی شو. نوی امیر واک ته رسېدو سره سم وزیر محمد رفیق خان ولمساوه چې خپل ټول ورونه ونیسي او بندیان یې کړي، په تېره بیا هغه ورونه چې له ده مشران دي،که چېرې داسې ونه کړي نو هغوی به ضرور د امارت پر وړاندې فساد وکړي. دغه وخت د هرات په لښکر کې د امیر درې وروڼو(محمد اعظم، محمد اسلم او محمد امین) شتون درلود او علامه افغاني هم د محمد اعظم خان ملګرتیا کوله.(۳: ۳۷ مخ)

کله چې دغه ورونه د امیر د بد فکر او تدبیر څخه خبر شول، هر یو ځانونه هغو ولایتونو ته ورسول چې د پلار د فرمان له مخې ورته ورکړل شوي وو. هلته

په رسېدو سره يې د هغه ځای له خلکو همکاري وغوښته او پایله دا شوه چې د ورونو ترمنځ خونړي جنګونه او فتنې رامنځته شي.(۱: ۵۱ مخ)

د څېړونکي منيب په قول، د افغانستان شمالي سيمې هغه مهال د امير دوست محمد خان له لوري محمد افضل خان، د زرمت(پکتيا) سيمه محمد اعظم خان او د کندهار سيمه محمد امين خان ته سپارل شوې وه.(۹: ۱٦٦مخ)

د دغو کورنيو جنګونو سرو لمبو ته انګرېزانو هم لمن وهله او پوکي يې ورکول، ځکه چې د هغوی ګټه د تل په څېر په دې کې وه چې نور په خپل منځ کې مخالف او وران کړي. کله چې نوموړی بد حالت علامه افغاني وليد، نو ځان سره يې ټينګه ژمنه وکړه چې هرومرو بايد د انګرېزانو لاس له ختيځ څخه لنډ کړي.

په افغانستان کې د دې کورنې اختلاف لامل دا و چې د مرحوم امير په لښکر کې له امير شېرعلي خان څخه پرته نور زامن(محمد اعظم خان، محمد اسلم خان او محمد امين) يې هم حاضر وو، کله چې امير وفات شو، د دې ورونو ترمنځ د واک پر سر اختلاف پيدا شو او امير شېرعلي خان د خپل وزير(محمد رفيق خان) په مشورو خپل ورونه له دولتي ډګره ووېستل او هغوی هم د افغانستان نورو ولايتونو ته خواره شول او له هر لوري يې د شېرعلي خان پر ضد کورنۍ جګړې پيل کړې.(۴: ۳۵۹ مخ)

ځينې څېړونکي بيا په دې اند دي چې علامه افغاني د مرحوم امير(دوست محمد خان) په دربار کې لوړ مقام درلود، آن تر دې چې د امير نږدې دوست (مصاحب) يادېده. کله چې امير په هرات کې په (۱۲۸۰ ل) کال وفات شو، ځای يې زوی(شېر علي خان) ونيو. نوي امير هم علامه افغاني ته هغه دندې وسپارلې، کومې چې د پلار له لوري ورته سپارل شوې وې. نوموړی چې د نوي امير د پوره باور او درناوي وړ و، نو د دربار او دفترونو ټولې چارې يې د خپل مديريتي سليقې او مهارت له مخې ښې سمبالې کړې او په لومړي ځل

په افغانستان کې د نوي عصر اردو د رامنځته کولو لپاره کوټلي گامونه واخیستل شول او وروسته بیا د امیر شېرعلي خان له لوري د عصري اردو بنسټ کېښودل شو او د شېرپور په فقیر آباد کې یې ورته عصري ودانۍ هم جوړې کړې. په پښتو د عسکري نوي اصطلاحات، رتبې او عسکري قوماندې یې له انگلیسي ژبې پښتو ته واړولې. دغه راز د دولتي ښوونځیو او روغتونونو ترځنگ د پوستي چارو او د وزیرانو د هیأت رامنځته کېدل ټول هغه څه وو چې د امیر له لوري د علامه افغاني د مشورو او سیاسي فکر په ترڅ کې رامنځته شول.(۱۱: ۱٦ مخ)

علامه افغاني له پیل نه د محمد اعظم خان پلوي و. کله چې د کورنیو جگړو په پایله کې امیر شېرعلي خان د محمد اعظم خان او عبدالرحمان خان د لښکرو له لوري له ماتې سره مخامخ شو، پیل کې د محمد اعظم خان او د عبدالرحمان خان له لوري محمد افضل خان(اعظم خان ورور او د عبدالرحمان خان پلار) د غزني له زندانه آزاد شو او د امیر په توگه وټاکل شو، خو هغه له یو کال امارت څخه وروسته وفات شو او ځای یې محمد اعظم خان ونیو. په دې وخت کې علامه افغاني زیات نفوذ درلود، آن تر دې چې د صدارت چارې یې پرمخ وړې او امیر محمد اعظم خان هېڅ کار د ده له مشورې پرته نه کاوه.(۴: ۲٦۰ مخ)

امیر محمد اعظم خان چې کله د سلطنت پر تخت کېناست، یوه مهمه ستونزه یې انگرېزانو سره مخالفت و، هغه داسې چې انگرېزانو غوښتل او ځانگړې علاقه یې درلوده چې په کابل کې داسې سلطنت رامنځته کړي چې د برتانوي هند گټې خوندي او وپالي او هم د دوی پالیسي پرمخ یوسي. دا چې علامه افغاني د محمد اعظم خان استاد او ځانگړی مشاور و، امیر ته یې د دې اجازه ورنکړه چې د انگرېزانو خبره ومني او د هغوی پالیسي پرمخ یوسي، ځکه چې نوموړی د انگرېزانو سرسخت دښمن او خلاف و. علامه افغاني نه غوښتل چې د افغانستان بهرنی سیاست د انگرېزانو په لاسونو کې

وي او تل يې هڅه کوله چې د انګرېزانو پلانونه خنثی کړي. همدغه سبب و چې د برتانوي هند د استخباراتو د تعقيب او څار لاندې هم و.(٦: ٢۴ مخ)

د امير دوست محمد خان له مرګ څخه وروسته علامه افغاني د کورنيو جګړو پر مهال د محمد اعظم خان همکارۍ ته مخکې شو، کله چې محمد اعظم خان په جګړه کې بريا ترلاسه کړه، نوموړی يې د صدراعظم په توګه مقرر کړ. د ده د علمي هلو ځلو په پايله کې د دولت کارونه دخلکو پر وړاندې روښانه او معلومداره شول. لازم اصلاحات منځته راغلل چې دغه حالت په ټوله کې انګرېزانو ته د قبول وړ نه و، نو ځکه يې ډېرې پيسې مصرف کړې، د اعظم خان کسان يې په پيسو واخيستل او په دې هڅه کې وو چې يو ځل بيا د اعظم خان ځای په امير شېر علي خان ډک کړي.(٣: ١۵٨ مخ)

د کورنيو جګړو په ترڅ کې چې کله له ماتې وروسته محمد اعظم خان ايران ته وتښتېد او امير شېرعلي خان د دوهم ځل لپاره د واک پر څوکۍ کېناست، د دربار يو شمېر توطيه کوونکو وروسته له څه وخت تېرېدلو امير له دې خبرې خبر کړ چې علامه افغاني د محمد اعظم خان استاد دی او نوموړی تاسو سره کله هم همکار نه شي پاتې کېدلی، په داسې حال کې چې امير دا وخت هم علامه افغاني ته د قدر په سترګه کتل. په دې ډله کې (محمد رفيق خان لودي) هغه شخص و چې په دربار کې يې د علامه افغاني له پوهې او نفوذ څخه وېره درلوده، نو په همدې بنسټ يې د امير نظر خراب کړ، پايله دا شوه چې د امير په امر علامه افغاني هېواد ترک کړي او د ايران له لارې پرته په بلې لارې له هېواده ووځي. نوکله چې بيا علامه افغاني له هېواده روانېده، د امير شېر علي خان لپاره يې د اصلاحاتو يو مفصل طومار(پلان) ليکلی و او هغه ته يې وسپاره. په دې هر اړخيز پلان کې علامه افغاني د عصري کابينې، مواصلاتو، مطبوعاتو، معارف، اردو او آن د اقتصاد په اړه يادونې کړې وې. نوموړي امير ته ليکلي وو چې انګرېزان د ټول ختيځ دښمنان دي، خو په دښمنۍ کې په دې برياليي دي چې په ختيځ کې ټول

نظامونه د استبداد پر بنسټ ولاړ دي او خلک د ناپوهۍ څخه د خرافاتو په کنده کې پراته دي او د دغو ملتونو خلاصونه له یاد شیانو څخه د پاچاهانو دنده او مسؤولیت دی.(۷: ۹۹ مخ)

د امیر محمد اعظم خان په تېښتې او ایران کې یې پر مړینې کورنیو جګړو پای وموند، علامه افغاني د اعظم خان په څېر له تېښتې منع راوړه او د امیر شېر علي خان په دوهم ځل بریالیتوب سره بیا هم کابل کې پاتې شو. امیر شېر علي خان د ده دکورنۍ له امله په دې ونه توانېد چې ده ته کوم ضرر ورسوي، دغه مهال خپله علامه افغاني وغوښتل چې هېواد ترک کړي، هماغه و چې له امیر څخه یې د وتلو اجازه وغوښته، هغه هم په دې شرط چې ایران ته ولاړ نه شي او هلته له محمد اعظم خان سره یو ځای نه شي د وتلو اجازه ورکړه، په دې ډول نوموړی له افغانستان څخه په ۱۲۵۸ل.کال ووت او د هند له لارې حجاز ته ستون شو.(۴: ۲٦۱مخ)

له پورته څېړنې څخه څرګنده شوه چې علامه افغاني د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ لپاره نه سترې کېدونکې هلې ځلې کړي. نوموړی د خپل وخت هغه ځیرک او سیاسي شخصیت و چې د یو هېواد خپلواکي او استقلالیت یې له هر څه معتبر ګڼل او په دې لاره کې یې له پیل نه تر مرګه پورې پوره هڅه کوله. سیدجمال الدین د همدغې پاکې او سپېڅلې مفکورې له مخې د انګرېزانو ضد و او نه یې غوښتل چې د برتانوي هند ګټې په افغان خاوره کې وپالي. د ده کوښښ تل همدا و چې په ځانګړي ډول د افغان چارواکو او په ټوله کې د مسلمانانو پاملرنه همدې نکتې ته را واړوي او د اصلاحاتو په یو منظم پلان سره افغانستان له جدي خطرونو وژغوري.

## ب – د اسلام په خپراوي او د امپریالېزم پر ضد د علامه سیدجمال الدین افغاني سیاسي مبارزه

سید جمال الدین افغان چې یوې مذهبي، دیني او علمي کورنۍ سره تړاو درلود، د ژوند له پیل څخه په یوه اسلامي، دیني او ملي روحیې سمبال و. له

هماغه اوله یې له خپل پلار او نورو ښوونکو څخه د دین د خدمت او د هېواد پالنې درس زده کړی و. همدغه سبب و چې خپل ټول ژوند یې اسلامي او ملي مبارزې ته وقف کړی و او په دې لاره کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې.

علامه افغاني د خپلې سیاسي او اسلامي مبارزې په دوران کې ډېر ستړې او ربړې وګاللې، په دې لاره کې له ډېرو خنډونو سره مخامخ شو. د ده یواځینی موخه په اسلامي هېوادونو کې د مسلمانانو یووالی، برابروالی او وحدت و. دا چې هغه مهال د انګرېزانو او استعمارګرو د توطیو او دسیسو په ترځ کې د نړۍ مسلمانان ټوټه – ټوټه او فرقه – فرقه وو، نو ده غوښتل چې دغه ټوټه کېدل او پارچه کېدل په یووالي او وحدت بدل کړي او په سیمه کې د انګرېزانو استعمار ته ماتې ورکړي.(۳: ۹٦ مخ)

د علامه افغاني لومړی او وروستی هدف د نړۍ د مسلمانانو یووالی وو، په ځانګړي ډول د ختیځ د مسلمانانو چې د دښمنانو په لاسوهنو یې یووالی کم رنګه او پیکه شوی و. نوموړي د مسلمانانو یاد بد وضعیت او حالت نه شوی زغملی، نو د همدې لپاره یې مسلمانان اسلامي، ملي او سیاسي مبارزې ته هڅول او دوی ته یې د پوهې او سیاسي بصیرت په ترلاسه کولو ټینګار کوه. (۱۳: انټرنټ)

علامه افغاني چې د اسلامي او ملي فکر څښتن و، تل یې هڅه کوله چې د کفري نړۍ ټول هغه شوم پلانونه چې د اسلامي نړۍ پر خلاف یې جوړول رنګ کړي. دی چې د هېواد پالنې او په اسلامي روحیې سمبال و، غوښتل یې چې د عیسایي اروپا، انګرېزي ښکېلاک او امپریالېزم پر خلاف نه ستړې کېدونکې سیاسي مبارزه وکړي. له شک پرته چې علامه افغاني د اسلامي نړۍ د اوسنۍ ویښتیا ستر بنسټ ایښودونکی او امام دی. نوموړی لومړی مسلمان و چې د لویدیځ د نیواک راتلونکي خطرونه یې په ښه توګه سره محسوس کړل او خپل پاتې عمر یې د دغه خطر سرببره د اسلامي نړۍ په

پوهولو ولګوه او انګرېزي ښکېلاګرو ته يې خپل ډار وښود. ايډورډ براوون د علامه افغاني په اړه ليکي، سيد جمال الدين د اسلامي هېوادونو د ويښتيا لپاره ډېر ستر کارونه وکړل او د لويديځو هېوادونو د ښکېلاک پر ضد يې د يووالي بلنه ورکړه. هانس کهان يې په اړه ويلي، د علامه افغاني مخالفينو هم د ده حقانيت منه، هغه يو اغېزمن وينا کوونکی، علمي پانګه، سم اند او مذهبي سپېڅلتيا لرله. (۱۲: انټرنټ)

دا چې علامه افغاني د اخلاقو له مخې يو بې آلايشه، يو مخی، بې ريا او لوی سړی و، نو په همدې سبب يې غير مسلمانو شخصيتونو هم ستاينه کړې. امريکايي ليکوال(لوثروب) يې په اړه وايي، علامه افغاني لومړنی مسلمان دی چې پر ختيځو اسلامي هېوادونو د لويديځو هېوادونو له خوا په خطر وپوهېده او د دوی اسلامي ضد مظاهرو څېره يې ډېره بده راغله، نو را پورته شو چې د يو فکري او ټولنيز انقلاب له لارې د ختيځو اسلامي هېوادونو له سيمو څخه دغه خطر محوه کړي. علامه سيد د عالم اسلام د راويښولو د نهضت په لار کې، د ښکېلاګرو، کفري نړۍ او امپرياليزم پر وړاندې له سياسي مبارزې او له هېڅ ډول کوښښ څخه ډډه ونه کړه او هر ځای چې به يې ګام پورته کړ، نو تر شا به يې فکري او ټولنيز انقلاب زور اخيست.(۱۱: ۳۷ مخ)

علامه افغاني سربېره پردې چې د اسلام په دفاع، خپراوي او د ښکېلاک او امپرياليزم پر ضد يې لساني او عملي مبارزه کوله، ترڅنګ يې د ژورنالېزم په ډګر يا په بلې اصطلاح قلمي جهاد او سياسي مبارزه يې هم په ډګر او په ميدان کړې ده او په دې سپېڅلې لاره کې يې هره سخته او ربړه په خورا تندي زغملې.

علامه افغاني د اسلام ضد فکري او وسلواله مبارزه نشوی زغملی او چې هر ځای به ولاړ، نو هلته به يې اخبارونه، جريدې او نشريې چاپولې. ټولنې او ډلې به يې جوړولې او ګوندونه به يې رامنځته کول. په دې هلو ځلو کې يې هر ځای د جريدو، اخبارونو او نشريو بنسټ کېښود. علامه افغاني غوښتل

چې تل خلک په اسلامي فکر سمبال او وروزي. دوی وينښ کړي او وينښ يې وساتي. دغه راز د کفري ښکېلاک او امپرياليزم پر وړاندې يې يو موټی او متفق وساتي. نوموړی خپله د اخبارونو په هکله وايي:«اخبار ليکل هغه بې ساری هنر دی چې موضوع يې د خلکو اخلاقي او ملي حال احوال او غايه يې د ولس د اخلاقو سمون، د خپل او آن د ټولو ولسونو نيکمرغي، آرامي او هوسايي ده».(۱۲: انټرنټ)

علامه افغاني د خپلو اسلامي، ملي او سياسي موخو د ترلاسه کولو لپاره ډېر تږی او لالهانده وه، د موخو په اړه به يې چې چېرته لږ رڼا هم وليده ، نو معطل به يې نه کاوه او هلته به يې ځان رسوه. د ده لوی شاګرد(محمد عبده) په همدې ټکي پرې کله ناکله نقد کوه. علامه افغاني د اسلامي هېوادونو د پرمختګ، د ښکېلاکګرو او د کفري نړۍ د ماتې دومره تږی او تلوسه يې درلوده چې په دې لاره کې يې هر رنګه وسيلې ته لاس اچوه.

علامه افغاني له يو بل انتقاد لاندې هم و، هغه داسې چې نوموړي د خپلې سياسي، ديني او ملي موخې د ترلاسه کولو لپاره تل صريحه او ښکاره لهجه د ختيځ پاچايانو او د لويديځ استعمارګرانو سره کاروله او په پوره جرأت به يې پرې انتقاد کوه. دې خارق العاده جرأت او صريحې لهجې ده ته ډېر تاوان کړی و، هغه دا چې هدف لاسته راوړلو کې به يې له ناکامۍ سره مخامخ کوه. د دې انتقاد په اړه يې يو بل شاګرد(عبدالقادر المغربي) وايي: که څه هم سيد جمال الدين افغان په خپل ژوند کې له جرأت نه ډکو، صريحو او ښکاره ويناو له له ناکاميو سره مخامخ کړی و، خو له بل لوري د ده همدغه ناکامي د ده د رسالت له کړيو څخه يوه کړۍ تشکيلوله. زياتوي، که چېرته علامه افغاني د ختيځ له پاچايانو او اميرانو سره لاره يوه کړې وه او د هغو هيلو، هوا او هوس ته يې مثبت ځواب ويلی و، غوښتنې يې ورته په پټو سترګو منلې وې، د هغو په خوښه يې کار کولی او د هغوی په شرمناکو کارونو يې په جرأت او صراحت انتقاد نه کولی لکه څنګه چې نورو شيوخو دا کار کوه، نو حتماً به د ده غږ هم

غلی  او دعوت او رسالت به یې مړ شوی و او کله به یې هم بیا له ځانه وروسته داسې شاګردان نه و روزلي او نه و پرېښي چې د حق او سپېڅلي رسالت په لاره کې قرباني ورکړي.(۴: ۲۸۵مخ)

علامه افغاني خپل ټول ژوند د اسلام د خپراوي او د کفر پر وړاندې څرګندې مبارزې ته ځانګړی کړی و. ده غوښتل چې خپلې اسلامي، ملي او سیاسي مبارزه کې اسلامي دولتونه له کمزورتیا څخه د غښتلتیا پر لور بوځي او په ټوله کې مسلمانان داسې ویښ او بیداره کړي چې خپل بنسټونه وپېژني او اسلامي ملتونه مترقي ملتونه او اسلامي دولتونه قوي دولتونه شي. دغه راز د خپلې مبارزې له مخې یې غوښتل چې د مسلمانانو عقلونه د اوهامو له غوټو او قیدونو څخه را وباسي او ټول ختیځوال سره یو شي، تر څو بایللی برم بیا ځل ترلاسه او وګټي. علامه افغاني به په ختیځ کې د خپلې سیاسي پالیسۍ له مخې د انګرېزانو په سیاست ډېر بریدونه او انتقادونه کول. نوموړي د همدغې موخې په خاطر د دنیا له ټولو منافعو او مطامعو تېر شوی و او د نورو په شان ورته مایل نه و. د همدې غایې په سبب یې ښځه هم ونه کړه او نه یې څه مال او متاع پیداکړه.(۳: ۸٦مخ)

علامه افغاني د اسلامي او ملي روحیې له امله د خپلې سیاسي مبارزې په جریان کې د ټولو رنځونو سبب او جرړه کفري نړۍ او په ټوله کې انګریزي ښکېلاکګر ګڼل. دی د انګریزي ښکېلاکګرو پر وړاندې ډېر حساس او له هغوی یې کرکه او نفرت درلود. د علامه افغاني په مغزو کې دغې خبرې پوره ځای نیولی و او د ده د شخصیت بنسټیز او جوهري رکن یې تشکیلوه. دا په دې چې دی له ډېرې پخوا زمانې څخه په دې پوه شوی و چې انګرېزان او د امپریالېزم پلویان د ټول ختیځ او بیا په ځانګړي ډول د مسلمانانو لوی دښمنان دي. دوی غواړي چې اسلامي هېوادونه یو په بل پسې خپلو استعماري دامونو کې راولي او ښکېل یې کړي. همدارنګه د مسلمانانو ارادې او خپلواکي سلب کړي او شتمنۍ یې ور لوټ کړي. نوموړی په دې پوهېده

چې انګرېزان او کفري نړۍ د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره له هر رنګ وسیلو څخه ګټه اخلي او هر راز مشروع او غیر مشروع اسباب او امکانات په لاره اچوي. د علامه افغاني دا ذهنیت و چې استعمارګر نه د کومې ژمنې او نه د کوم تړون پروا لري او نه په خپلو ژمنو وفا کوي. څه چې دوی ته ډېر ارزښت لري هغه دا دي چې له هرې لارې وکولی شي چې خپلې ګټې لاس ته راوړي او تضمین یې کړي.(۴: ۲۸۸ مخ)

د پورته بحث له مخې ویلی شو چې علامه افغاني په ټوله کې خپل ژوند د اسلام خپراوي، امپریالېزم او د انګریزي ښکېلاکګرو پر وړاندې سیاسي مبارزي ته وقف کړی و. په دې سخته او ستونزمنه لاره کې یې هره سختي او کړاو په ورین تندي وزغمه او ویې کولی شو چې د خپلې ژبې، قلم او فکر له لارې اسلام ته خدمت وکړي او د دښمنانو بدو او شومو پلانونو ته سینه سپر کړي او په دې لاره کې له ځانه وروسته داسې ویښ، ځیرک او بیداره شاګردان وروزی چې په هر یوه نن ورځ حساب کېږي.

**۳ – د علامه سید جمال الدین افغاني سیاسي سفرونه**

لکه څنګه چې مخکې ذکر شول علامه افغاني د خپل سیاست او مفکورې له امله د افغانستان بشپړه خپلواکي او استقلالیت غوښت او هم له انګرېزي ښکېلاکګرو سره روحاً جوړ نه و او فکري دښمني یې ورسره وه، نو دغه کارونه د دې سبب شول چې نوموړی د برتانوي هند تر تعقیب او څار لاندې راشي او افغانستان کې ورته ژوند سخت شي. دا چې نوموړی له امیر محمد اعظم خان سره نېکې اړیکې درلودې اوپه اصطلاح ځانګړی مشاور یې و، همغه مهال ده یاد امیر ته اجازه نه ورکوله چې له انګرېزانو سره غاړه یوسي او یا د برتانوي هند ګټې خوندي کړي. همدغه لامل و چې د اعظم خان له لنډې دورې وروسته، د امیر شیرعلي خان په دوهم ځل واکمني کې علامه افغاني ته په هېواد کې حالات ترینګلي شول، دا ځکه چې له یو لوري امیرشېرعلي خان ته توطیه کوونکو تخریب کړی و، یا یې امیر له شتون او له نفوذه وېره درلوده

او یا هم له بل لوري انګرېزانو نه غوښتل چې دی دې په هېواد کې پاتې شي، نو دغه بېلا بېل فشارونه د دې لامل شول چې علامه افغاني هېواد ترک کړي او بل ځای ته سفر وکړي. دا چې علامه افغاني له هېواده په وتلو سره ډېرو سیمو او هېوادونو ته د مجبوریت او یا د سیاسي پالیسۍ له امله سفرونه کړي، لازمه ګڼم چې یاد سفرونه په مختصر ډول وڅېړم او مهمې پېښې یې بیان کړم.

سید له هېواد څخه تر وتلو مخکې خپل ټول مترقي پلانونه او پروګرامونه د وخت امیر(شېرعلي خان) ته وسپارل او له هېواد څخه د وتلو پر مهال(۱۲۸۵ هـ ق – شعبان) لومړی کندهار، بیا بلوچستان او بیا د ذوالحجې په میاشت کې د هند پر لور وخوځېد.(۱۵: انټرنټ)

کله چې هند ته ورسېد، د هند حکومت له لوري ورته تود هرکلی وشو، خو هندي چارواکو د دې لپاره چې دی دې په ښار کې پاتې شي، زړه نه ښه کوه، دا ځکه چې د ده شاو خوا پوهان، علماء او ځوانان راټول نه شي او پټه کومه دسیسه جوړه نه کړي، نو ځکه یې نوموړي ته د کم وخت له تېرولو وروسته د وتلو حکم وکړ. علامه افغاني یاد حالت ته په کتلو سره په هند کې له میاشتې زیات وخت تېر نه کړ، د هند ساحلي سیمو ته ولاړ او له هغه ځایه د مصر په لور د (۱۲۸٦ هـ ق) کال د محرم په میاشت کې وخوځېد.(۱۴: انټرنټ)

مصر ته په رسېدو په قاهره کې د الازهر ځوانانو له لوري ورته تود هرکلی وشو او په یاده غونډه کې علامه افغاني ګډونوالو ته یوه سیاسي توده بیانیه هم وکړه، یاده بیانیه د انګرېزانو تر ملاتړ لاندې دولت ته سخته تمامه شوه او په دې پلمه چې ده یو کشیش مسلمان کړی، له مصر څخه ووېستل شو. دغه وخت ده غوښتل چې مکې مکرمې ته ولاړ شي، خو اراده یې بدله کړه او ترکیې ته ولاړ.(۱۱: ۵۵ مخ)

ترکیې ته په رسېدلو سره علامه افغاني په استانبول کې د ترکیې صدراعظم(علي باشا) سره ولیدل او پېژندګلوی یې سره وشوه. د علي باشا له

لوري يې تود هرکلی وشو، دربار ته يې دعوت کړ او پوره قدر يې ورته وکړ. دغه وخت نوموړی په خپل افغاني لباس کې خلکو سره ليدنې کولې او د دربار ټول وزيران د نوموړي له پوهې، لياقت، هوښيارتيا، ذکاوت او ټولنيزتوب څخه متاثره وو.(۱۴: انټرنټ)

همدارنګه دغه مهال دترکيې اخبارونو د سيدجمال الدين افغاني د علمي او معنوي لوړ شخصيت په اړه مضامين خپرول. د شپږو مياشتو له تېرېدلو وروسته د سيد د درناوي په خاطر د ترکيې حکومت نوموړی د پوهنې وزارت د علمي شورا د غړي په توګه ومانه او په دغه موده کې علامه افغاني ترکي ژبه هم زده کړه او رواني خبرې به يې پرې کولې. دا چې علامه افغاني يو پياوړی مقرر او د خطابې سړی و، نو د ايا صوفيه اوسلطان احمد په جامع جوماتونو کې به يې د مسلمانانو د يووالي، علم، صنعت، اقتصاد او سوداګرۍ په اړه بيانات هم ورکول، تر دې چې يو شمېر کسان يې مخالف شول او پر ضد يې ناروا کړنو ته لاسونه واچول.(۱۱: ۵٦ مخ)

په ترکيه کې د علامه افغاني محبوبيت او بيانات د دې لامل وګرځېدل چې شيخ الاسلام (حسن فهمي) سره يې ورانه راشي، کومه ورانه او بدبيني چې ورځ تر بلې زياتېدله، په ځانګړي ډول کله چې سيد د صنعت په هکله د دارلفنون په مرکز کې يوه وينا وکړه. د دې دښمنۍ له مخې خلک په دوو ډلو ووېشل شول، کله چې ياده دښمني وروستۍ درجې ته ورسېده، پايله کې صدراعظم(علي باشا) اړ شو چې علامه افغاني څخه په مؤقت ډول غوښتنه وکړي ترڅو ترکيه ترک کړي او د فتنې د پای ته رسېدو په صورت کې بيا ځل راشي، هماغه و چې نوموړی له ترکيې څخه تبعيد شو او د مصر پر لور د (۱۲۸۷ هـ ق) کال د ذوالحجې په مياشت کې وخوځېد.(۴: ۲٦۳مخ)

مصر ته په رسېدو سره علامه افغاني د ډېر پاتې کېدو هوډ نه درلود، خو دمصر پاچا مجبور کړ چې په مصر کې پاتې شي. ترڅنګ يې نوموړي ته معاش هم وټاکه. علامه به په مصر کې زده کوونکو ته په فلسفه، نظري او

علمي حکمت، معقولات، فلکیات، تصوف، اصول، فقه او اسلام کې تدریسونه کول. ده په دغه موده کې ډېر تکړه شاګردان وروزل، د نوموړي د پوهې او ځیرکتیا په پایله کې پاچا مجبور شو چې ځان ته یې نږدې کړي او په هره قضیه کې ترې مشوره واخلي. دلته هم لکه د ترکیې په څېر ځینې کسان لکه د انګلستان کونسل(جنرال فیضان یادولي) پیدا شول او ویې کولی شول چې د پاچا نیت علامه افغاني ته بد کړي او دی سره له یو ملګري(ابو تراب) له مصر څخه تبعید کړي.(۱۴: انټرنټ)

علامه افغاني له مصر څخه بیا ځل هند ته راغی، د هند په ځینو مجلو کې یې سیاسي مقالې خپرې کړې. له څه وخت تېرېدلو وروسته دا ځای هم ورباندې تنګ شو، نو اروپا ته یې مخه کړه. لومړی لندن او بیا پاریس ته ولاړ. ده دلندن په یوه خپرونه کې دوه مقالې (په ځینو هېوادونو کې د انګلستان پر سیاست او په مصر کې د جګړې د لاملونو) په نومونو خپرې کړې. وروسته یې په پاریس کې د فرانسې له نامتو فیلسوف(ارنسټ رنان) سره بحثونه نشر شول او همدا راز یې د فرانسې له نابغه لیکوال(ویکتور هوګو) سره هم لیدنه وشوه. همدغه مهال د علامه افغاني تکړه شاګرد(محمد عبده) چې د مصر هېواد یو پیاوړی ادیب او عالم و، هم پاریس ته را ورسېد او له خپل استاد سره یو ځای یې د «عروة الوثقی» په نامه جریده له چاپه را ووېسته. په دې جریده کې له انحرافي افکارو سره مبارزه او دمسلمانانو د یووالي لپاره تبلیغ کېده. همدغه مهال د علامه افغاني یو بل اثر«تتمة البیان فی تاریخ الأفغان» هم له چاپه راووت. په پاریس کې د عروة الوثقی (۱۸) ګڼې خپرې شوې.(۵: ۴۷ مخ)

د فضل رحمن فاضل په قول، دغه جریده په عربي ژبه خپرېده، دې جریدې لومړي نشریات د ۱۸۸۴ز.کال د مارچ په ۱۳ مه په پاریس کې پیل کړل او وروسته له (۱۸) ګڼو وېستلو د همدغه کال د اکتوبر په میاشت کې یې نشرات بیا بند شول.(۸: ۲ مخ)

بالاخره علامه افغاني له پاريس څخه هم ولاړ او په بحرين او ایران باندې هم وګرځېد، خو وروسته د روسيې پلازمينې(مسکو) ته ورسېد او د مسکو رسنيو د ده د راتګ خبر نشر کړ. علامه افغاني دلته هم درې کاله له خپلې مفکورې او سیاست سره پاتې شو، خو له دې ځایه بیا د ژوند څپو په مخه کړ او المان، لندن، ایران او ځینې نور ځایونه يې وکتل. علامه افغاني د سفرونو په پای کې تر ټولو وروسته په ترکیه کې آرام شو او د خپل ژوند پاتې پنځه کلونه يې په استانبول کې له (سلطان عبدالحميد) سره د مېلمه په توګه تېر کړل. د سلطان لپاره د علامه افغاني د «پان اسلامېزم» مفکورې تجويز چې د اروپايانو د واک او تسلط په مقابل کې د مسلمانو هېوادونو يووالی او اتحاد و، په زړه پورې وه، خو د علامه نور سیاست سره يې علاقه نه درلوده او دغه نوميالی مېلمه يې په کور کې د بندي په توګه ساته.(۵: ۴۷ – ۴۸ مخونه)

**۴- د علامه سيد جمال الدين افغاني مړینه**

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، علامه افغاني د خپل ژوند وروستۍ شپې او ورځې په ترکیه کې د سلطان عبدالحمید په دربار کې په ظاهره د مېلمه په توګه تېرولې، خو په اصل کې يې د يو بندي مثال درلود. ده سره خلیفه فکري اختلاف درلود او همدغه اختلاف د دې لامل شوی و چې نوموړي ته خلیفه د ژوند په وروستيو کې له ترکيې نه بهر د تداوۍ لپاره اجازه ورنکړي او په ډېرې غريبۍ، فقر او د خلیفه د جاسوسانو تر نظر لاندې ژوند وکړي.(٦: ١٠٣ مخ)

د څېړونکي رازقي په قول، افغان سيد د ژوند په ورستيو کې د سرطان په رنځ د ترکيې د سلطان(عبدالحميد) او د هغه د ملګري(شيادي) له لوري اخته شوی و او په وريو کې يې په يوې طريقې ورته د سرطان ويروس تزريق کړی و. دا چې په ترکیه کې يې درملنه نه کېدله، نو علامه افغاني غوښتل چې د درملنې لپاره د (ويانا) ښار ته ولاړ شي، خو سلطان ورته د تګ اجازه ور نه کړه او ورته يې وويل چې په ترکیه کې به دې معالجه وکړم. علامه افغاني پوره پنځه میاشتې د دې مرګونې ناروغۍ په منګولو کې تېرې کړې، خو بیا يې هم

چا غږ وانه ورېد. دغه وخت ده د خپل اخلاقي شهامت له مخې د سلطان له لوري معاش هم ترک کړ او په دې پوه شو چې د سلطان دروغجنه خواخوږي او معاش نور کوم درد نه دوا کوي او په فقیرۍ او تنګ لاسۍ کې یې خپل ځان د خدای ج هیلي ته وسپاره.(۱۱: ٦۷ مخ)

څېړونکی ساپی د علامه افغاني د مرموز مرګ په تړاو وایي، د ده مرګ یو مرموز مرګ دی چې هېڅوک یې په اړه دقیق خبر نه لري، خو د علامه افغاني د یو پیاوړي شاګرد(عبدالرشید ابراهیم) قول را نقلوي چې ویلي یې دي: کله چې سید د خپل ژوند وروستۍ شیبې شمېرلې او په بستر پروت وو، پوښتنې ته یې ورغلم، ماته یې په اشاره د نږدې کېدو وویل، نوموړي خبرې نه شوی کولی، قلم یې وغوښت او ویې لیکل:( ای الله ج ته شاهد اوسه چې د حضرت محمد ص د ژوند وروستۍ خبره دا وه چې امتي – امتي، خو زه وایم ملتي – ملتي! شیخ زیاتوی، دوه ساعته وروسته چې یې بیا خدمت ته ورسېدم، نو ملګرو په ژړا وویل چې استاد(علامه افغاني) په حق ورسېد.(۱۴: انټرنټ)

سید جمال الدین افغاني د ۱۲۷۵ هـ ق. کال د شوال المکرم په پنځمه نېټه یا د ۱۸۹۷ ز.کال د مارچ په ۹ مه نېټه د سه شنبې د ورځې په ۱۲ بجو او ۱۳ دقیقو د ۵۹ کلونو په عمر په مرموز او غیر مستقیم ډول شهید او خپله سپېڅلې ارواح یې د ځمکې او آسمانونو خالق ته وسپارله. له بده مرغه چې له مرګ او شهادت څخه یې وروسته دښمن یو ځل بیا خپل بد او کرغېړن نیت وښوده، هغه داسې چې سلطان، حسین پاچا او ضابط البطاش ته امر وکړ چې د علامه افغاني کور تالاشي کړي او ټول اسناد او کتابونه حفظ کړي چې بیا د څو جاسوسانو په ملتیا همداسې وشول. درې ساعته لا تېر نه وو چې سلطان امر وکړ چې د مرحوم علامه افغاني جسد د «بشخلر مزار» په هدیره کې ښخ کړئ او بیا د سلطان د اخطار په پایله کې پرته له درېیو تنو څوک هم جنازې ته رانغلل او د څلورو جوالیانو په مرسته دغه د ختیځ نابغه او ستر

افغان انسان(علامه افغاني) د عثماني امپراتورۍ په قلمرو کې خښ شو.(۱۱: ۷۰ - ۷۱ مخ)

په ترکیه کې د نوموړي له خښولو وروسته د افغانستان حکومت په ۱۹۴۴ز.کال د علامه افغاني جسد کابل ولایت ته را انتقال کړ او دکابل پوهنتون په انګړ کې یې په پوره عزت او درنښت خاورو ته وسپاره او وروسته یې بیا مزار په یوې ښکلې ګومبدې وپوښل شو. د دغه ستر مفکر او عظیم انسان یاد دې تل تازه، قبر یې منور او روح یې ښاد اوسه!.

**پایله**

د څېړنې پایله کې ویلی شو چې علامه سیدجمال الدین افغاني د افغانستان د معاصر تاریخ داسې یو نومیالی، لیکوال او ستر عالم دی چې په کړنو او فکر یې له پخوا نه تر دې دمه ټول افغانان او دنړۍ مسلمانان ویاړي، په دې معنا چې علامه افغاني یواځې افغانستان او افغانانو پورې اړه نه لري، بلکې یو نړیوال شخصیت دی. داسې نړیوال چې په عالي فکر، پوهې او ځیرکتیا یې د نړۍ ډېرو پوهانو اقرار کړی او دا یې منلې چې نوموړی یو بې نظیره او نادر انسان دی.

څېړنې دا هم وښوده چې نوموړی د ایران نه، بلکې د افغانستان د کونړ ولایت د اسعد آباد د سیمې د سیدانو له جملې څخه دی او دا هغه څه دي چې خپله علامه افغاني په خپلو آثارو کې پرې اعتراف کړی او څوک چې یې ایرانی بولي دا به یې په حق کې ستر خیانت او زیاتی وي.

دغه راز د څېړنې په پای کې په لنډ ډول ویلی شو چې د علامه افغاني سیاسي مبارزه د یو فکر او احساس له مخې وه، هغه فکر چې له ډېرو زده کړو، تجربو او سفرونو څخه یې په لاس راوړی و. علامه افغاني غوښتل چې د خپلې سیاسي مبارزې په ترڅ کې یو خپلواک، آزاد او په خپلو پښو ولاړ افغانستان ووینې. افغانستان له نیمه مستعمره حالته را وباسي او ټول افغانان د قلم، ژبې او ویناوو له مخې په دې پوه کړي چې یووالی، وحدت او انسجام

مو د بریا راز دی. اتحاد او تعلیم کولی شي چې دشته ستونزو گراف مو راټیټ او یا له منځه یوسي.

څېړنه دا هم را ښیي چې د علامه افغاني د سیاسي مبارزې موخه په ځانگړي ډول د افغان ملت او مسلمه امت عروج او ترڅنگ یې د استعماري ځواکونو کمزورتیا او د پالیسیو ناکامول و.

همدارنگه علامه افغاني د خپلې سیاسي مبارزې پر مټ غوښتل چې انگرېزي ښکېلاکگرو ته دا درس ورکړي او دا ورته ثابته کړي چې خپلواکي اخیستل کېږي، نه دا چې ورکول کېږي. علامه افغاني د همدغې سپېڅلې موخې د ترلاسه کولو لپاره له هېڅ څه شي درېغ ونه کړ، آثار یې ولیکل، جریدې یې خپرې کړې او په ټوله کې یې هر اړخیزه سیاسي مبارزه وکړه، ترڅو یې ملت نېکبخته، متحد او آسوده وي او د خپلواکۍ له ستر نعمت څخه برخمن وي.

**وړاندیزونه**

۱ – علمي او فرهنگي ټولو ادارو ته وړاندیز کوم چې د علامه افغاني د یاد، هڅو او سیاسي مبارزې په خاطر هر وخت علمي سمینارونه او غونډې په لاره واچوي، تر څو د دغه ویاړلي شخصیت لوړ فکر ژوندی او تازه وي.

۲ - د وخت چارواکو او مشرانو ته مې وړاندیز دی چې د علامه افغاني سیاسي مبارزې مهم ټکي د خپل بهرني سیاست یوه برخه وگرځوي او ترڅنگ دې په پلازمینه کابل کې د دغه عالم انسان د نوم ژوندي ساتلو په موخه یو علمي او فرهنگي مرکز ورغوي.

**مأخذونه**

۱ – ابورویه، محمود. مبارزه سید جمال الدین افغان. مترجم، غلام صفدر پنجشیری و محمد حسین راضی، چاپ اول، مطبعه تجارتی معارف:کابل، ۱۳۴۱.

۲ – محمود، ابورویه. د سید جمال الدین د ژوند لنډ تاریخ، ژباړن، غلام رباني وطن یار، لومړی چاپ، جی ایم سنز پرنټرز: پېښور، ۱۳۸۰.
۳ – باشا، مخزومی محمد. د افغان سید جمال الدین خاطرات، ژباړن، محمد شاه ارشاد، سمون، تحشیه او تعلیقات:محمد امین مجاهد، لومړی چاپ، د علومو اکاډمي د خپرونو ریاست: کابل، ۱۳۹۰.
۴ – جدیر، حبیب الرحمن. رساله ها ومقالات در باره سید جمال الدین افغانی، چاپ اول، مؤسسه انتشارات بیهقی: کابل، ۱۳۵۵.
۵ – صفا، مصطفی. د نړۍ ۱۰۰ مشهورې خبرې، لومړی چاپ، مومند خپرندویه ټولنه: ننگرهار، ۱۳۹۵.
٦ – طبیبی، عبدالحکیم. تلاشهای سیاسی سید جمال الدین افغانی یا مبارز بزرگ سیاسی شرق در قرن ۱۹، چاپ اول، مؤسسه انتشارات بیهقی: ۱۳۵۵.
۷ – عطایی، محمد ابراهیم. د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه، لومړی چاپ، میوند خپرندویه ټولنه: کابل، ۱۳۸۳.
۸ – فاضل، فضل الرحمن. سید جمال الدین الافغانی بیدارگر عصر، چاپ اول، وزارت اطلاعات و فرهنگ: کابل، ۱۳۸۷.
۹ - منیب، عبدالعزیز. د افغانستان معاصر تاریخ، لومړی چاپ، محمدي انتشارات: کابل، ۱۳۹۳.
۱۰ – نړیوال، رازقي. علامه سید جمال الدین افغان د پوهې او ازادۍ علمبردار، لومړی چاپ، د بیهقي د کتاب خپرولو مؤسسه: کابل، ۱۳۸۵.
۱۱ – نړیوال، رازقي. علامه سید جمال الدین افغان د پوهې او آزادۍ علمبردار، لومړی چاپ، کتاب ښار: کابل، ۱۳۹٦.
۱۲ – نن ټکی آسیا.(۲۰۱۸)، د سید جمال الدین افغان ملیت او آندونه.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=89978449&url=https://www.nunn.asia/

۱۳ – نن ټکی آسیا.(۲۰۲۰)، د ختیځ نابغه سید جمال الدین افغان پېژندنه او زده کړې.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=89978449&url=https://www.nunn.asia/163188/%25D8%25AF-%2

۱۴ – روهي.(۲۰۲۰)، دختیځ نابغه سید جمال الدین افغان پېژندنه، زده کړې، سفرونه، سیاسي پوهه، سیاسي اهداف او مېړانه.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&opi=89978449&url=https://rohi.af/news/84--CSsQFnoECB

۱۵ – تاند.(۲۰۱۹)، د ختیځ نابغه سید جمال الدین افغان لنډه پېژندنه.
https://www.google.com/url?sa=t&source=web&rct=j&
et/%3Fp

پوهنیار نورالله نوري مجددي

# په تړون کې د ارادې رول

## (د افغانستان د مدني قانون او اسلامي فقهې پرتلیزه

## څېړنه)

# The role of intent in contract

## A comparative study of Afghan civil law and )

## (Islamic jurisprudence

***Researcher: Noorullah Noori Mojaddadi***

**Abstract**

The establishment or negation of a contract hinges upon the intentions of the involved parties, with intention serving as a pivotal factor influencing the final execution and the emergence of issues and disputes during contract implementation. In the contemporary landscape, advancements in rapid transfer and communication have elevated the ease of transactions with residents from various global regions. Consequently, contracts are frequently executed across diverse jurisdictions, and in some instances, the expression of intention deviates from traditional linguistic or written forms, finding manifestation in gestures and actions. Moreover, the increasing prevalence of electronic devices facilitates the articulation of intention in many contracts. This study comprehensively analyses the significance and types of intention in contracts, and assesses the validity of intention expressed through words, actions, written

documentation, and electronic means. The examination is conducted within the framework of Afghanistan's Civil Law and the Islamic Jurisprudence of 1976, providing valuable insights for legal scholars, practitioners, and legislative entities. This research is qualitative and was done on the basis of secondary data. The findings of the research shows that the expression of intention in the contract by word, action, writing and even gesture is accepted in both civil law and Islamic jurisprudence.

**خلاصه**

د تړون رامنځ ته کېدل او نه رامنځ ته کېدل د تړون کوونکو په ارادو پورې اړه لري او د تړون وروستی اجراء او په اجراء کې د ستونزو او شخړو رامنځ ته کېدلو کې هم اراده د یو اهم عامل په حېث بلل کېدای شي. دا چې نن ورځ د چټک انتقال او اړیکو وسایل ډېر پرمختللي شوي او د نړۍ له هرې برخې یې د بلې برخې له اوسېدونکو سره راکړه ورکړه ډېره او اسانه کړې، له همدې وجهې په بېلابېلو برخو کې تړونونه رامنځ ته کیږي او پدې کې ډېر تړونونه په داسې شکل رامنځ ته کیږي، چې اراده یکې د الفاظو او لیکنې په شکل نه څرگندیږي، بلکه د اشارې او حتی عمل په شکل څرگندیږي، په ډېرو تړونونو کې دغه اراده د الکترونیکي وسایلو په اساس هم څرگندیږي. په همدې اساس په دغه څېړنه کې د افغانستان د ۱۳۵۵ کال د مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره په پرتلیز ډول په تړونونو کې د ارادې اهمیت او څرنگوالی او په قول، عمل او لیکلي شکل په حضوري او یا د الکترونیکي وسایلو له لارې د ارادې اعتبار څېړل کیږي. دغه څېړنه د حقوقو او شرعیاتو ټولو لوستونکو په ځانگړي ډول عدلي او قضایي ارگانونو او د قوانینو رامنځ ته کوونکو ادارو لپاره مهمه ده، څو په دې برخه کې د اسلامي فقهې سره د مدني قانون په مطابقت پوه شي. یاده څېړنه کیفي ده او د دوهم لاس معلوماتو په اساس ترسره شوې.

د څېړنې موندنې ښايي چې په تړون کې د ارادې څرګندول په قول، عمل، ليکلو او حتی اشارې سره په مدني قانون او اسلامي فقه دواړو کې منل شوي.

**سریزه**

الله ج د انسان له پېدایښت سره سم د ده په خلقت کې ټولنیزوالی ایښې، څکه چې ژوند يې له ضرورتونو سره مل دی، ضرورتونه د يو بل له همکارۍ پرته نشي حل کېدای، اړينه ده چې د ضرورتونو په رفع کې د يو بل لاسنيوي وکړي، خو دا چې د ضرورتونو تر څنګ خواهشات هم ډېر دی او ممکن ستونزې رامنځ ته شي يو لړ اصول بايد يو د بل د ضرورتونو په رفع کولو کې مراعات شي. که معاملات ترسره کېږي پداسې شکل ترسره شي چې دواړو لوريو يا يوه ته الزام يا التزام رامنځ ته شي او دواړه لوري بايد ورته متعهد وي. د معاملاتو د ښه ترسراوي په منظور د انسانانو تر منځ قراردادونه تړل کيږي څو په منظم ډول د لوريو په ګټه پای ومومي، نه په شخړو او اختلافاتو، دا چې شخړې او اختلافات رامېنځ ته نشي الهي قوانينو د تړون په ترسره کولو او په هغه باندې په وفا کولو ډېر تاکيد کړی، د الهي قوانينو تر څنګ د انسان په لاس جوړو شويو قوانينو هم دې برخې ته توجه کړې.

**د مسئلې طرحه کول**

په ټولنه کې د انسانانو د روزمره ژوند راکړې ورکړې په تړونونو پورې اړه لري او په عام ډول ډېرې راکړې ورکړې د داسې تړونونو په اساس ترسره کيږي چې نه پکې الفاظ کارول کيږي او نه پکې ليکل، بلکه په عمل يا اشارې سره ترسره کيږي، همدارنګه د طرفينو ترمنځ د الکترونيکي وسايلو نه په استفاده هم ډېر تړونونه رامنځ ته کيږي. ددې لپاره چې د افغانستان د مدني قانون له نظره د دغسې تړونونو اعتبار، او په ټوله کې په تړونونو کې د ارادې د څرګندولو بېلا بېلې قانوني طريقې واضحه شي پدې څېړنه کې ورباندې بحث کيږي او تر څنګ يې د ارادې د څرګندولو د هغه لارو طريقو فقهي اړخ څېړل کيږي چې مدني قانون منلي او ورته يې اجازه ورکړې.

## د څېړنې اهمیت

دا چې د انسانانو اکثره ورځنی معاملات او اړیکې تړونونو ته اړتیا لري او تړون د طرفینو په ارادو سره رامنځ ته کیږي، مهمه ده چې دا روښانه شي چې د افغانستان په مدني قانون کې په کوم شکل د ارادې په څرګندولو سره تړون رامنځ ته کېږي او لوریو ته حقوقي آثار رامنځ ته کولای شي؟ همدارنګه د اسلامي فقهې سره مقایسه کول یې د قانون د اعتبار د زیاتوالي او په دې خاطر چې معلومه کړو مدني قانون په ځانګړي ډول له حنفي فقهې سره څومره برابر دی اړین او مهم دي.

## د څېړنې اهداف

دغه څېړنه د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره ترسره شوي:

۱- په تړون کې د ارادې رول واضح شي.

۲- په تړون کې د ارادې د رول په اړه د افغانستان د مدني قانون دریځ روښانه او د اسلامي فقهې سره یې مقایسه وشي.

۳- د افغانستان د مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره په تړون کې د ارادې څرنګوالی روښانه شي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- په تړون کې د ارادې رول څه او څومره مهم دی؟

۲- په تړون کې د ارادې د رول په اړه د افغانستان مدني قانون د اسلامي فقهې په ځانګړي ډول له حنفي فقهې سره څومره برابر او موافق دي؟

۳- د افغانستان د مدني قانون او د اسلامي فقهې له نظره په تړون کې اراده باید په کومو شکلونو څرګنده شي؟

## د څېړنې کړنلاره

دغه څېړنه چې نظري اړخ لري ، د څېړنې له کتابتوني ډیزاین او پرتلیز او تشریحي میتود څخه په ګټه اخیستنه ترسره شوې، چې دوهم لاس معلومات له بېلا بېلو مصادرو او مراجعو څخه پکې راجمع شوي. د موضوع په اړه د

افغانستان د مدني قانون مواد تشریح او تحلیل شوي او بیا له اسلامي فقهې سره پرتله شوي.

**د تړون پېژندنه**

تړون چې په عربي کې عقد او په دري ژبه کې ورته قرارداد ویل کیږي، عبارت له هغه اتفاق څخه دی چې د دوو یا د دوو نه د زیاتو اشخاصو تر منځ صورت نیسي او په پایله کې یې قانوني التزام رامنځ ته کیږي.

قدري باشا تړون داسې تعریفوي چې: تړون عبارت د ایجاب د ارتباط څخه دی چې د یو لوري لخوا صادرېږي د بل لوري د قبول سره، چې اثر یې په معقود علیه کې ښکاره شي. (۴: ۱٦٨مه ماده)

ډاکټر مصطفی نیازی وایي: تړون د یو لوري د ارادې د صدور څخه عبارت دی چې مقابل لوری هغه قبول کړي او اثر یې په معقود علیه کې ښکاره شي. (۹: ۴۵ مخ)

**په تړون کې اراده**

په تړون کې اراده د قانون په اساس د انعقاد شرط بلل کیږي، د انعقاد شرط عبارت له هغه شرایطو څخه دی چې په تړون کې د نه موجودیت په صورت کې تړون منځ ته نشي راتلای او یا دا چې په عام ډول سره د تړون ملغی منځ ته راځي. د انعقاد او صحت د شرایطو تر منځ فرق همدا دی چې که د انعقاد شرط وجود ونلري تړون اصلاً نه رامنځ ته کیږي او یا دا چې عامه ملغی (بطلان) رامنځ ته کیږي یعنی هر شخص چې د مصلحت خاوند وي کولای شي تړون لغوه کړي، ولې د صحت د شرایطو په نشتون کې خاصه ملغی(فساد) رامنځ ته کیږي چې خاص اشخاص کولای شي له منځه یې یوسي، بل فرق د دواړو تر منځ دادی چې فساد د تصحیح او یا وخت په تېریدو سره له منځه ځي او بطلان د وخت په تېرېدو او یا تصحیح سره له منځه نه ځي. فقهاء د انعقاد د شرط په ځای ارادې ته د رکن اصطلاح کاروي. د دې ترڅنګ د افغانستان مدني قانون چې ډېره برخه یې له حنفي فقهې

ثخه اخيستل شوې هم ارادې ته د تړون د رکن لاندې صراحت لري. (۳: ۵۰۵- ۵۹۴مې مادې پورې)

د حنفي مذهب د اصولو علماء رکن داسې تعريفوي چې هر هغه ثه چې د شي په ماهيت کې داخل وي او په اساس يې يو شي وجود متوقف کيږي رکن بلل کيږي(٦: ١٩٦٣ مخ)، لکه په عباداتو کې رکوع، سجده او په معاملاتو کې ايجاب او قبول چې دا د احنافو نظر دی، ولې د احنافو نه غير نور فقهاء وايي چې تړون د دريو ارکانو لرونکی دی، چې د عاقد، معقود عليه، او د تړون د صيغې ثخه عبارت دي. (۱: ۹۲ مخ)

عاقد په بيع کې بايع او مشتري (اخيستونکی او خرثونکی)، ثمن او مبيعه ده (مبيعه يا جنس او بدل يې کېدای شي پيسې وي) او صيغه چې ايجاب او قبول دی بلل کيږي(مخکينی مأخذ)

د افغانستان مدني قانون هم اراده د تړون رکن بولي، چې د ايجاب او قبول په اساس ثرگنديږي. مدني قانون داسې صراحت لري چې: ″تړون د دواړو خواوو په ايجاب او قبول سره منعقديږي″( ۳: ٥٠٦ ماده، ۱ فقره)

مخکې مو د تړون په تعريف کې وويل چې، تړون د يو لوري د ارادې د صدور ثخه عبارت دی چې مقابل لوری هغه قبول کړي او اثر يې په معقود عليه کې ښکاره شي، د تعريف د لمړنۍ برخې ثخه معلوميږي چې تړون د لوريو د ارادو په اساس رامېنځ ته کيږي چې يو لوری به يې د ايجاب په شکل ثرگندوي او بل لوری به يې د قبول په شکل.

ددې لپاره چې د طرفينو د ارادې ماهيت مو واضح کړی وي ايجاب او قبول هر يو بېل بېل توضيح کوو:

**د ايجاب او قبول پېژندنه**

د احنافو په نزد ايجاب او قبول داسې تعريف شوي

**د ایجاب پېژندنه**

د عاقدینو د هر لوري وړاندیز ته ایجاب ویل کیږي یعنې کوم لوري چې اول خبرې وکړې، هغه بایع وي او که مشتري. که بایع لمړی وویل چې خرڅ مې کړ او که مشتري لمړی وویل چې په دومره مې واخیست دواړه ایجاب بلل کیږي.(۹: ۴٦)

**د قبول پېژندنه**

هر یو د عاقدینو چې دوهم ځل خبرې وکړې قبول بلل کیږي، چې د ایجاب سره په توافق او رضا دلالت وکړي، ولي د احنافو نه پرته نور فقهاء بیا د ایجاب او قبول په اړه وایي چې، ایجاب د هغه چا قول ته ویل کیږي چې د ملکیت خاوند وي ولو که دوهمه خبره یې کړې وي او قبول د هغه چا قول ته ویل کیږي څوک چې ملک ترلاسه کوي ولو که اوله خبره یې کړي وي.

داکتر وهبه الزهیلي په الفقه الاسلامي و ادلته کې لیکي چې عامه قاعده د ایجاب او قبول په اړه داده چې ایجاب د بایع لخوا واقع کیږي او قبول د مشتري لخوا.

**د ایجاب او قبول شکلونه او طریقې**

ایجاب او قبول چې په تړون کې په ارادې تعبیریږي د الفاظو تر څنگ په فعل، اشاره او لیکلو سره هم صحت لري چې لاندې هر یو په ترتیب سره مطالعې لاندې نیسو:

**په لفظ سره ایجاب او قبول**

د افغانستان د مدني قانون په اساس د ارادې صادرول په الفاظو... چې په عرف کې مروج وي کیږي. (۳: ۵۰۹ ماده) په اسلامي فقه کې په عقودو کې ایجاب او قبول په لفظ سره ډېر زیات استعمالیږي او د قوت په اعتبار تر نورو مخکې دی، که عاقدین په ویلو قادر وي نو غوره خبره ده چې ایجاب او قبول په الفاظو سره ترسره کړي هغه که په هر ژبه وي، ددې ترڅنگ کوم خاص عبارت او الفاظ هم شرط ندي، هر څه چې د خلکو په عرف کې په رضایت

باندې دلالت وکړي کفايت کوي (۱: ۹۵ مخ)، ځکه چې په عقودو کې اصل رضاء ده لکه الله جل جلاله په قران کريم کې فرمايي: يا ايهاالذين امنو لاتأکلو اموالکم بينکم بالباطل الا ان تکون تجارة عن تراض منکم...(النساء سورت، ۲۹ ايت)

ژباړه: ای هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی (ای مؤمنانو!) مه خورئ تاسې! مالونه د يو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره! مگر (خورئ يې) که وي دا (مالونه چې خورئ يې اموال د) تجارت (چې صادروی) په خوښی سره له تاسې نه.

رسول الله ص فرمايي: ''عن أبي سعيد الخدري، يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إنما البيع عن تراض''(۵: ۲۱۸۵ حديث نمبر)

د ابي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايی: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل، يقيناً بيع چې ده په رضا سره ده.

**د لفظ استعمال**

د افغانستان د مدني قانون د ۵۰۷مې مادې په اساس ايجاب او قبول د ماضي په صيغه وي او د مضارع يا امر په صيغه هم جايز دی خو په دې شرط چې د حال اراده ورڅخه شوي وي. د مدني قانون ۵۰۸مې تړون د استقبال په صيغه هم درست بللې پدې شرط چې عاقدينو په همدې صيغه د تړون قصد کړی وي. په اسلامي فقه کې  د ماضي لفظ د استعمال د صحت په اړه د ټولو فقهاوو تر مېنځ اتفاق وجود لري، همدارنگه که مضارع لفظ استعمال شي نو بيا نيت ته ضرورت دی ځکه چې مضارع هم په حال دلالت کوي او هم په استقبال نو که نيت د حال و تړون صحيح کيږي، ددې ترڅنگ په تړون کې استفهام او استقبال د ټولو په اتفاق نه صحيح کيږي، ولې د امر په اړه فقهاء اختلاف لري. احناف وايي چې د امر په صيغې سره تړون نه منعقديږي اما فقط د نکاح په تړون کې د ضرورت په اساس صحيح کيږي؛ مگر امام مالک رح په تړون کې امر صيغه درسته گڼي لکه يو څوک ووايي چې دا قلم

راباندې په پنځوس افغانی خرڅ کړه او مقابل لوری ووايي چې خرڅ مې کړ نو تړون صحيح شو. (۹: ۴٦ مخ)

**په اشاره سره ايجاب او قبول**

په اشارې سره تړون د افغانستان مدني قانون قبول کړی مگر پداسې اشارو چې په عرف کې مروج وي. (۳: ۵۰۹ ماده) په اسلامي فقه کې د امام ابو حنيفه او امام شافعي رح له انده که چېرته عاقد په خبرو کولو قادر ؤ نو په اشارې سره يې تړون نه منعقديږي. مالکي او حنابله علماء په مفهومې اشارې سره تړون درست بولي. کوم چې گونگی دی نو د هغه په اړه په اتفاق سره تړون د اشارې په اساس رامېنځ ته کېدای شي، پدې اړه فقهي قاعده هم وجود لري چې داسې صراحت لري: د گونگي اشاره په ژبې د بيان په څېر ده. (۸: ۷۰ ماده) مگر که ليکل کولای شو غوره ده چې په ليکلو سره تړون منعقد کړي، چې دا نظر د احنافو دی. احناف وايي: د اشارې په نسبت ليکل دلالت ته نږدې او له احتمال څخه لرې دي. (۱: ۱۰۲ ماده)

**په ليکلو او استازي لېږلو سره ايجاب اوقبول**

د افغانستان د مدني قانون د۵۰۹مادې د حکم په اساس هم د ارادې ظاهرول... د ليک... په اساس صورت نيولی شي. د تيلفون او انټرنيت له لارې د عقودو تر سره کولو د ليک په اساس په تړون باندې قياس کيږي.د افغانستان مدني قانون ۵۲۴مه ماده د تيلفون يا ورته نورو وسايلو په اساس تړون درست بولي خو داسې چې د زمانې له حېثه لکه د دوو حاضرو خواوو تر مېنځ تړون او د ځای له حېثه لکه د دوه غايبو اشخاصو تر مېنځ تړون گڼل کيږي. د همدې قانون ۹۴ماده په تيلفون او د هغې مماثل وسايلو سره هم د ارادې اظهارول درست گڼلي، خو د قبول لپاره يې فوريت شرط کړی، په هغه صورت کې چې موجب د ايجاب لپاره موده نه وي تعين کړې کولای شي د خپل ايجاب نه وگرځي.

پوښتنه داده چې که ایجاب په لیکنه او یا د استازي د لیږلو پواسطه صورت ونیسي نو قبول به څرنگه صحیح گڼل کیږي؟

که لیک ورسېد او مقابل لوري په هماغه مجلس کې وویل چې قبول مې دی دا قبول درست دی. او که استازی ورسېد او مقابل لوري ته یې ایجاب وړاندې کړ او هغه په همدې مجلس کې قبول کړ بیا هم درست دی.که قبول په بل مجلس کې صورت ونیسي تړون نه صحیح کیږي. د یادولو وړ ده چې د حاضرو متعاقدینو مجلس د ایجاب د صدور محل دی او د غایبو بیا د خط د وصول او یا د استازي او پیغام د رسېدو محل دی.

لکه پورته مو چې وویل د افغانستان مدني قانون د لیک په اساس د تړون انعقاد درست بولې مگر په مدني قانون کې د استازي د لیږلو په اړه صراحت وجود نلري.

په اسلامي فقه کې د طرفینو تر مېنځ په لیکلو او د استازي په لیږلو سره د فقهاوو په اتفاق تړون صحیح کیږي. (۲: ٦٩ ماده) په هره ژبه چې پوهیږي پدې شرط چې لیکل به مستبین (پداسې شکل چې تر پایه وجود ولري) او مرسوم(پداسې طریقه ولیکل شي چې د خلکو تر مېنځ رواج وي او د مرسل الیه ذکر او د مرسل امضاء به پکې وي)، که لیکل مستبین نه وي یعنې په هوا او اوبو لیکل وي او یا په خط کې امضاء نه وي تړون نه منعقدیږي. د فقهي قاعدې په اساس لیکل د قول په څېر دي. (۸: ٦٩ ماده)

البته د جمهورو فقهاوو (مالکیه، حنابله او شافعي) په اند په لیکلو سره د نکاح تړون نه منعقدیږي، اما حنفي علماء د په لیکلو د نکاح د تړون په اړه وایي چې که دواړه حاضر وي نو په لیکلو سره د نکاح تړون نه منعقدیږي، ولې د غایب په مورد کې په خاص کیفیت او شروطو سره د نکاح تړون د لیکلو په اساس منعقد کېدلای شي، ابن عابدین د فتح نه نقل کوي چې په لیکلو سره نکاح داسې ده لکه په الفاظو سره، نو کله چې خِطبه په لیکلي ډول وشي،

ليکل به د شاهدانو په حضور کې ولوستل شي، که د مقابل لوري رضا وه نو هغه به خپل قبول د شاهدانو په حضور کې صادر کړي. (۲: ۲۰۹ ماده)

**په فعل سره ايجاب او قبول (التعاطي تړونونه)**

دا هغه تړونونه چې پرته له الفاظو ترسره کيږي، پدې عقودو کې مبادله يوازې د فعل په ډول پرته له ايحاب او قبول څخه ترسره کيږي. مثلاً مشتري مبيعه واخلي او بايع ته ثمن ورکړي غير لدي څخه چې اشاره ترسره شي او يا خبرې وشي، که مبيعه ارزان بيعه وي او که قيمته. (۱: ۹۹ مخ)

د افغانستان  مدني قانون د ۵۰۹ مادې په اساس تعاطي يا د راکړې ورکړې تړونونه پدې شرط صحيح بولي چې د تړون په حقيقت باندې په صراحت سره دلالت وکړي. لکه که يو څوک د نانوايي د دکان څخه ډوډۍ واخلي او ۱۰ افغانۍ ورته کيږدي او دکاندار هم څه ونه وايي تړون صحيح شو، ځکه دغه فعل د تړون په حقيقت باندې په صراحت سره دلالت کوي.

په اسلامي فقه کې فقهي قاعده ده چې وايي: د حاجت په وخت کې سکوت خپله بيان دی چې دا په قبول دلالت کوي لکه د توکو تسليمي، دا ځکه قبول ګڼل کيږي چې د قيمت په مورد کې شرايط ذکر شوي. (۸: ٦۷ ماده)

امام شافعي رح، شيعه او ظاهريه وايي چې په معاطا تړونونه نه صحيح کيږي، ځکه چې رضاء خفي امر دی او دا نه صحيح کيږي مګر په الفاظو سره که هغه په صريح ډول وي او که په کنايې سره، يا په اشارې او يا مفاهمې او مکاتبې سره وي.(۱: ۱۰۱ مخ) امام مالک رح وايي چې په فعل سره بيع صحيح کيږي، او امام ابوحنيفه رح په کم قيمته شيانو کې بيع معاطاء درسته بولي خو په غټو شيانو کې درسته نه بولي، او امام غزالي رح هم دغه نظر لري. (۹: ٦۰ مخ)

### د ازدواج تړون په فعل سره

د افغانستان د مدني قانون د ۵۰۹ مادې څخه معلومیږي چې د طرفینو رضایت باید معلوم وي، او د نکاح په تړون کې رضایت تعاطي ډول نه څرګندیږي. (۷: ۲۳ مخ) مدني قانون داسې صراحت لري چې: "د راکړې ورکړې په اساس د ارادې ضاهرول، چې د یو ه تړون په حقیقت باندې په صراحت سره دلالت وکړي، صورت نیولی شي"

په اسلامي فقه کې د علماوو په اتفاق سره د ازدواج تړون په فعل سره نه صحیح کیږي، یو خو د ازدواج تړون ډېر زیات مهم  او پاک دی او بل د ښځې لپاره دایمي اثار رامېنځ ته کوي، دا ټول ددې ایجاب کوي چې احتیاط پکې وشي، او یاید د ارادې په قوت سره ترسره شي، چې هغه قول دی، بل دا دی چې د نکاح د تړون توپیر باید له زنا سره وشي، چې دا هم په قول سره کېدای شي. د امام شافعي رح په نزد طلاق، خلع او رجعت دا جایز ندي مګر په قول سره. (۱: ۱۰۲ مخ)

### د ایجاب او قبول شرایط

د ایجاب او قبول د شرایطو په اړه د الفاضو ښکاره والي د افغانستان مدني قانون د شرط په توګه قبول کړی. د افغانستان د مدني قانون د ۵۰٦ مادې ۲مې فقرې په اساس"ایجاب او قبول د هغه الفاظو څخه عبارت دی چې په عرف کې د تړون د پېدا کېدو لپاره استعمالیږي".

همدارنګه د ایجاب او قبول توافق هم د شرط په توګه قبلوي. د مدني قانون ۵۲۱مادې په اساس د ایجاب او قبول ترمېنځ هغه وخت مطابقت حاصلیږي چې د تړون په ټولو اساسي مسألو د دواړو خواوو موافقه شوي وي، په ځینو ددې مسألو موافقه د دواړو خواوو د الزام لپاره کافي نه ده.

د پورته مادې څخه معلومیږي چې د ایجاب او قبول مطابقت هغه وخت حاصلیږي چې، په ټولو مسألو باندې توافق شوی وي. د دې ترڅنګ د د مجلس یووالي هم د شرط په حېث قبلوي او د مجلس د اتحاد لپاره په ۵۱۷

ماده کې دارنگه صراحت وجود لري چې: ”د تړون داوړه خواوې د ایجاب ثخه وروسته د تړون د مجلس تر پایه پورې د قبلولو یا ردولو اختیار لري... “

د پورته توضیحاتو څخه معلومیږي چې د قانون په اساس تړون کې د ایجاب او قبول الفاظ باید ښکاره وي، په یو مجلس کې اراده صادره شي او ارادې به یو د بل موافقې وي.

د فقهاوو له آنده د ایجاب او قبول لپاره درې شرطه وجود لري. لومړی د ایجاب او قبول د صیغې ښکاره والی دی. ایجاب او قبول باید په ښکاره الفاظو سره صورت ونیسي، هغه الفاظ استعمال شي چې لغتاً او عرفا د همغه تړون په اړه د عاقدینو قصد ښکار کړي، ځکه چې باطني اراده پټه ده او عقود یو د بل نه په احکامو او موضوعاتو کې مختلف دي، که چېرته په تړون کې قصد ښکاره نشي نو الزام نه رامېنځ ته کوي.د تړون د صیغې لپاره کوم خاص شکل او لفظ نه دی مشخص شوی، په تړون کې د الفاظو معنی ته اعتبار دی نه شکل ته. دوهم د ایجاب او قبول توافق دی. قبول به د ایجاب موافق وي، مثلاً یو شخص بل شخص ته ووایي چې دا یو جریب ځمکه مې په دوه سوه زره افغانۍ درکړه او مقابل لوری ووایي چې په پنځوس زره افغانۍ مې قبوله ده تړون نه صحیح کیږي. یا ووایي چې د کلي ځمکه مې په یو لک درکړه او قابل ووایي چې د ښار ځمکه مې قبوله ده تړون نه صحیح کیږي. او درېیم د ایجاب او قبول اتصال(د مجلس یووالی) دی. ایجاب او قبول به په یو مجلس کې تر سره کیږي. (۱: ۱۰۴ – ۱۰٦ مخونه)

اوس پوښتنه داده چې، د تړون مجلس کوم مجلس ته ویل کیږي؟

د تړون مجلس هغه حالت ته ویل چې په هغه کې متعاقدین د تړون په انعقاد بوخت وي، یا په بل عبارت د تړون په موضوع کې د کلام اتحاد ته د تړون مجلس ویل کیږي.

**په ایجاب او قبول کې د مجلس یووالی**

مدني قانون د مجلس د اتحاد لپاره په ۵۱۷ماده کې دارنګه صراحت وجود لري چې،"د تړون دواړه خواوې د ایجاب څخه وروسته د تړون د مجلس تر پایه پورې د قبلولو یا ردولو اختیار لري... "

اسلامي فقه هم د ایجاب او قبول د اتصال په شرطونو کې لمړی وایي چې ایجاب او قبول به په یو مجلس کې ترسره کیږي، که ایجاب په یو مجلس کې ترسره شي او قبول په بل کې، نه صحیح کیږي. د جمهورو فقهاوو (احنافو، مالکیانو او حنابله و) له نظره په قبول کې فوریت شرط ندی، قابل اړتیا لري چې د فکر او تأمل لپاره ورته وخت ورکول شي، که چېرته فوریت شرط شي نو فکر امکان نلري. حنفي او مالکي علماء د د مجلس یووالی په زمان پورې تړي دوي په دې اند تر څو چې د همدې تړون په اړه خبرې کیږي تر هغه وخته قبول صحیح دی.شافعي علماء وایي چې، تر څو د مجلس نه نه وي پاڅېدلی تر هغې قبول درست دی. شافعي او حنابله علماء مکان ته اعتبار ورکوي. (۹: ٦١ مخ)

**د تیلفون او د پیغام له طریقه د تړون انعقاد**

که چېرته د مجلس یووالی د مکان پورې وتړل شي نو بیا د تیلفون او پیغام له لارې د تړون په انعقاد کې ستونزه پېدا کیږي. د احنافو او مالکي علماوو نظر دلته ستونزه حلوي چې زمان ته اعتبار ورکول شي او د مجلس د یووالي نه هدف هغه حالت وګڼل شي چې عاقدین پکې د تړون په انعقاد بوخت وي.

**د سورلۍ پر مهال د تړون انعقاد**

دلته هم باید د مجلس د یووالي لپاره زمان په پام کې ونیول شي. ځکه چې د سورلۍ پر مهال مکان تغیر کوي او ایجاب کوونکي به د قبول تر وخته د خپل ایجاب څخه رجوع نه وي کړي. مدني قانون وایي چې که د قبلولو لپاره موده ټاکل شوي وي موجب نشي کولای ددې مودې د پای پورې د خپل ایجاب څخه منصرف شي. (۳: ٥١٦ ماده) په همدې شکل په ۵۱۷ ماده کې موجب

ته د ایجاب څخه د رجوع حق هم ورکول شوی پداسې وخت کې چې قبول لا نه دی صادر شوی.خو که چېرته قبول صورت وموند او نوموړی شخص ادعا وکړي چې زما د تړون اراده نه وه مثلاً د بیع په تړون کې موجب ووایي چې په سل افغانۍ مې درباندې وپلوره او مقابل لوری ووایي چې قبول مې دی، که بایع د نه پلورنې قرینه قایمه کړه چې اراده یې د بیعې نه وه نو خبره د بایع ده پرته له قسم څخه خو که اراده یې د بیعې وه بیع پرې لازمه شوه. مدني قانون هم د ایجاب دالزامیت په اړه صراحت لري او وایي چې، هر څوک د خپل ایجاب په سبب ملزم ګڼل کیږي، مګر دا چې د خپل التزام په نشتوالي یې تصریح کړې وي یا د ظاهري قراینو او یا د معاملې د طبیعت څخه داسې معلومه شي چې د ایجاب د الزام قصد وجود نه درلود. (۳: ۵۱۴ ماده)

د جمهورو فقهاوو په آند ایجاب کوونکی کولای شي مخکې له قبول څخه د خپل ایجاب نه رجوع وکړي او خپل ایجاب باطل کړي، اما اکثر د مالکیانو نه وایي چې موجب نشي کولای د خپل ایجاب څخه رجوع وکړي، دی مکلف دی چې په خپل ایجاب پاتې شي څو مقابل لوری یا هغه رد کړي او یا مجلس پای ته ورسیږي.کله چې د موجب لخوا د خپل ایجاب لپاره موده تعین کړي نو بیا د مالکي فقهاوو له نظره نشي کولای د خپل ایجاب څخه رجوع وکړي، مګر جمهور علماء ورسره موافق ندي لکه مخکې مو چې وویل هغوي وایي چې موجب کولای شي د قبول د صدور څخه وړاندې د خپل ایجاب څخه رجوع وکړي. په شرح صغیر کې راغلي چې که یو شخص په مضارع او یا امر سره شروع وکړي او بیا ووایي چې هدف مې بیعه نه وه او یا زما موخه ټوکې کول ؤ، خبره یې رښتینې ګڼل کیږي مګر قسم به خوري که قسم ونه خوري بیعه لازمیږي. (۹: ٦٢ مخ)

**هغه قراردادونه چې په هغه کې د مجلس اتحاد شرط نه دی**

د وصیت او وکالت په قراردادونو کې د مجلس اتحاد شرط ندی. چې په وصیت کې، دموصی په ژوند کې د موصی له قبول صحیح ندی. او د وکالت په تړون کې هم د مجلس یووالی شرط ندی. (۲: ۲۰۹ مخ)

**یو د عاقدینو لخوا د تړون څخه مخ نه اړول**

که چېرته موجب د ایجاب نه وروسته مجلس ترک کړي، یا دا چې قابل مجلس ترک او یا هم دا چې موضوع بدله کړي ایجاب باطل ګڼل کیږي. ابن عابدین وایي چې له ایجاب څخه په مخ اړولو ایجاب باطلیږي. د مدني قانون ۵۱۷ ماده هم یاد نظر تائید کړی.

**د ایجاب او قبول په مېنځ کې د عاقدینو وفات کېدل او یا د اهلیت له مېنځه تلل**

جمهور فقهاء (احناف، شافعي او حنابله) پدې آند دي چې د قبول نه مخکې د عاقدینو په وفات سره ایجاب باطلیږي، اما مالکي فقهاء وایي چې: ایجاب د مخاطب په مرګ سره نه باطلیږي، بلکه دا حق ورثه ته په میراث پاتې کیږي او هغوي کولای شي قبول او یا یې رد کړي. بعضې فقهاء وایي چې اغماء او جنون هم د وفات غوندې ایجاب باطلوي.

**پایله**

په نتیجه کې ویلای شو چې اراده د تړون په انعقاد کې د افغانستان مدني قانون او اسلامي فقه دواړه رکن بولي. په تړون کې اراده د لوریو د ایجاب او قبول په اساس څرګندیږي او ایجاب او قبول د تړون د انعقاد لپاره د لوریو د ارادې صادرول دي په داسې شکل چې په عرف کې متداول وي، ولې په اسلامي فقه کې پدې اړه فقهاوو تفصیلي بحثونه کړیو مثلاً احناف وایي چې ایجاب د لومړي لوري لخوا ترسره کیږي یعنې هغه څوک چې لمړی اقدام کوي ایجاب کوونکی بلل کیږي او هغه لوری چې دوهم اقدام کوي دده اقدام ته قبول ویل کیږي. ولې د احنافو پرته نور علماء وایي چې ایجاب د هغه چا

اقدام ته ويل کيږي چې د مال مالک وي، او قبول د هغه چا اقدام ته ويل کيږي چې د مال ملکيت ورته انتقاليږي، ډاکټر وهبة الزهيلي وايي چې عامه خبره داده چې بايع ايجاب کوونکی او مشتري قبول کوونکی دی. قانون د ايجاب او قبول لپاره الفاظ غوره ګڼي البته په اشاره، ليک، تيلفون او نورو مماثلو وسايلو له لارې او په فعل سره هم د تړون ترسره کېدل درست ګڼي البته د استازي د لېږلو په اساس د تړون د انعقاد په اړه د افغانستان مدني قانون خاموش پاتې شوی؛ په اسلامي فقه کې هم تړون د الفاظو (چې د ارادې د صادرولو اصلي حالت يې بولي)، اشارې او ليک سره د تړون انعقاد درست بولي، د تيلفون او نورو مماثلو وسايلو په اساس د تړون د انعقاد لپاره د استازي ليږل هم درست بولي. په اشارې سره د ايجاب او قبول په اړه هم قانون د اسلامي فقهې په پرتله يو څه سهل انګاري کړې، اسلامي فقه داسې نظر لري چې که يو شخص نشو کولای په الفاظو سره تړون منعقد کړي پداسې حال کې بيا په اشاره سره ددوي تړون درست ګڼل کيږي، مګر ليکل کولای شي ښه ده چې د اشارې تر څنګ ليکل هم وکړي، مګر قانون بيا په دې اړه يوازې په اشارې سره د تړون انعقاد پرته له محدوديته درست ګڼلی. په فعل سره د تړون ترسره کول په نور مواردو کې د احنافو او مالکيانو له نظره درست دي چې قانون هم ورته نظر راخيستي، ولې په يو شمېر مسايلو له نکاح کې سم نه دی، دا ځکه چې که د نکاح تړون د فعل په اساس ترسره شي نو د نکاح او نورو غير شرعي لارو د يو ځای کيدلو توپير به ګران شي. قانون او اسلامي فقه دواړه په تړون کې د ايجاب او قبول لپاره يو شان شرايط ذکر کوي چې عبارت دي له د مجلس يووالي، د ايجاب او قبول توافق او د الفاظو د ښکاره والي څخه. احنافو او مالکي علماوو د زمان له حېثه د مجلس يووالی قبول کړی او ترڅو چې د همدې تړون په اړه خبرې کيږي ايجاب له مېنځه نه ځي او قبول رامېنځ ته کېدای شي؛ مګر شوافع او حنابله د مکان له حېثه د مجلس يووالي ته په اعتبار باندې قايل دي، او قبول به د ايجاب سره

موافق وي، داسې نه چې يو لوري ايجاب په يو شکل وکړي او مقابل لورى قبول په بل شکل. د ايجاب او قبول لپاره الفاظ تر ټول غوره او قوي ډول دى البته د الفاظو تر څنګ په اشاره، ليک، د تيلفون او يا نورو مماثلو وسايلو له لارې او فعل سره هم اراده څرګنديدلای شي او د تړون انعقاد رامېنځ ته کېدلای شي. البته غوره خبره داده چې په اشاره هغه وخت تړون منعقد شي چې الفاظ ويل ممکن نه وي.

**وړانديزونه**

د دې څېړنې په پايله کې لاندې وړانديزونه کوو:

۱ـ دا چې مدني قانون د له نن څخه ۴۷ کاله پخوا رامنځ ته شوی، په دومره موده کې په ځانګړي ډول د تړونونو په برخه کې کافي بدلونونه رامنځ ته شوي، حکومت ته پکار ده چې د مدني قانون ټولې برخې په ځانګړي د تړونونو د برخې احکام د اوسني عصر مطابق تعديل کړي.

۲ـ حکومت بايد مدني قاضيانو ته د نړۍ په کچه د برجسته علماوو لخوا د سيمنارونو او ورکشاپونو زمينه برابره کړي، څو پدې برخه کې د قاضيانو ظرفيت لوړونه وشي.

**مأخذونه**


۱- الزحيلی، وهبة. الفقه الاسلامي و ادلته، الجزء الرابع النظريات الفقهيه والعقود، دارالفکر: الطبعة الثانيه،۱۴۰۵ه.

۲- الموسوعة الفقهيةالکويتية، وزارت الاوقاف والشؤن الاسلاميةـ الکويت، طبعه من ۱۴۰۴-۱۴۲۷هـ.

۳- افغانستان مدني قانون. لومړی کتاب حق (دوهم ټوک)، نولسمه ګڼه، رسمي جريده، پرلپسې ۳۵۲ګڼه.

۴- باشا، قدرې. مرشد الحيران الی معرفة احوال الانسان، المطبعة الکبری الاميريه: ۱۳۰۸.

۵- سنن ابن ماجه، کتاب التجارات، باب البيع الخيار (حديث رقم:۲۱۸۵).

٦- عبدالكريم بن محمد بن على بن محمد النملة. المهذب فى اصول الفقه، رياض، مكتبة الرشيد،۱۴۲۰ه، ج۵.

۷- عبدالله، نظام الدين. حقوق وجايب، کابل: انتشارات سعید، دریم چاپ،۱۳۹۱هـ ل.

۸- مجلة الاحكام العدليه. ١٨٧٦،

۹- نیازی، محمدمصطفی. د قراردادونو مقايسوي حقوق، يار خپرندويه ټولنه: جلال اباد،۱۳۹۹ هـ ش.

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Abdul Baqi Shahab

**AS. Editor:** Muhammad Ibrahim Paktin

**Editorial board:**

Senior research fellow Sher Ali Tazari

Senior research fellow Muhammad Sharif Zadran

Senior research fellow Abdul Jabbar Abid

Researcher Fellow Muhammad Dawood Nazim

Researcher Gholam Nabi Hanafi

**Composed & Designed By:**

Abdul Baqi Shahab

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul: 320 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.